له دې څخه معلومیږی چې قرآن کریم د شرعي احکامو حقیقي درک له سطحي فهم څخه پورته ګڼي او هغه د أولوالالباب په ځانګړې فکري طبقې پورې تړي، دلته حصر د مطلق انحصار معنی نه، بلکې د کامل او ژور درک د اختصاص څرګندونه کوي، یعنې یوازې هغه عقلونه چې له صفا، تدبر او بصیرت څخه برخمن وي د احکامو تر شا الهي حکمت او مصلحت په سمه توګه درک کولای شي همدا لید د قرآني منهج هغه اصل روښانه کوي چې د شریعت فهم د عقل د فعال، ژور او هدایت موندونکي استعمال سره تړلی دی.

١- کابلی تفسیر، لومړی ټوک، ٧١مخ.

٢- عبد الرحمن بن ناصر بن عبد الله السعدي (المتوفى: ١٣٧٦هـ)، تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان، محقق: عبد الرحمن بن معلا اللويحق، خپرندوی: مؤسسة الرسالة، لومړی چاپ، ١٤٢٠هـ-٢٠٠٠ م کال، ٨٤مخ.

تبيان ———— په قرآن کريم کې د عقل د مترادفاتو څېړنه

ب: أولوالالباب لپاره د تذکر او عبرت اخيستنې ځانګړي کول

الله جل جلاله داسې فرمايي: ﴿يُؤْتِي ٱلْحِكْمَةَ مَن يَشَآءُ ۚ وَمَن يُؤْتَ ٱلْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا ۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ﴾ [البقرة: ٢٦٩].

(ورکوي الله جل جلاله نافع علم سره له عمله هر چا ته چې اراده وکړي(د ورکولو يې) او هر چا ته چې ورکړل شو حکمت(نافع علم سره له عمله)؛ نو په تحقيق سره ورکړی شو ده ته خير ډېر، او نه اخلي پند مګر خاوندان د عقلونو(صافو چې د وهم او نفسي غوښتنو شوائب په کې نه وي)[1].همدارنګه الله جل جلاله داسې فرمايي: ﴿ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ﴾ [الرعد: ١٩].

(بېشکه خبره همدا ده چې پند اخلي«په دې قرآن» خاوندان د عقلونو خالصو)[2].

همدارنګه الله جل جلاله داسې فرمايي: ﴿لَقَدْ كَانَ فِى قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ﴾ [يوسف: ١١١].

(خامخا په تحقيق په قصه د دوی(يوسف يا نورو انبياوو يا اممو) کې عبرت دی لپاره د خاوندانو د عقلونو خالصو)[3]

همدارنګه الله جل جلاله داسې فرمايي: ﴿إِنَّ فِى خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ لَءَايَٰتٍ لِّأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ﴾ [آل عمران: ١٩٠]

(بېشکه په پيدا کولو د اسمانونو او ځمکې کې(سره له هغو شيانو چې په دې دواړو کې دي) او په اختلاف د شپې او ورځې کې(چې تل اوږديږي، لنډيږي، پرله پسې ځي او را ځي، کله رڼا کله تياره، کله يخ او کله تودیږي) خامخا دلائل دي(دالله جل جلاله) لپاره د خاوندانو د خالصو عقلونو)[4].

علامه عبدالرحمن بن ناصر سعدي رحمه الله په دې اړه داسې وايي:(الله جل جلاله خپل آيتونه په ځانګړي ډول د أولوالالباب«عقلونو خاوندانو» لپاره ځانګړي کړي دي؛

١- کابلی تفسير، لومړی ټوک، ٧١مخ.

٢- کابلی تفسير، دويم ټوک، ٧٤٧مخ.

٣- کابلی تفسير، دويم ټوک، ٧٣٧مخ.

٤- کابلی تفسير، لومړی ټوک، ٢٢٢مخ.

ځکه همدوی دي چې له دغو آیتونو څخه ګټه اخلي هغوی دې نښو ته د خپلو عقلونو په وسیله ګوري نه یوازې د خپلو سترګو په کچه)[1].

باید ووایو چې قرآني تذکر او عبرت یوازې ظاهري مشاهده نه ده، بلکې ژور عقلي تأمل ته اړتیا لري او د عقلونو خاوندان هغه کسان دي چې د حسي ادراک له سطحې پورته ځي؛ له همدې امله حقیقي انتفاع له قرآني نښو سره د فعال او متدبر عقل په شتون پورې تړلی دی لکه ابن کثیر رحمه الله چې وایي:(د الله جل جلاله دا وینا ﴿وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلْأَلْبَٰبِ﴾

یعنې له نصحیت او تذکر څخه ګټه نه اخلي مګر هغه څوک چې لُب او عقل ولري، داسې عقل چې د خطاب او د کلام معنی په سمه توګه درک او حفظ کولای شي)[2].

ج:له عمومي امر وروسته د تقوا په حکم کې د أولوالألباب ځانګړي کول: الله جل جلاله داسې فرمایي:﴿فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ يَٰٓأُوْلِي ٱلْأَلْبَٰبِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ [المائدة: ١٠٠].

(وویریږئ! تاسې له الله جل جلاله ای خاوندانو د صافو عقلونو لپاره د دې چې تاسې نجات ومومئ)[3]. همدارنګه الله جل جلاله داسې فرمایي: ﴿فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ يَٰٓأُوْلِي ٱلْأَلْبَٰبِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَدْ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيْكُمْ ذِكْرًا﴾ [الطلاق: ١٠].

(نو وویریږئ له الله جل جلاله، ځان وساتئ ای خاوندانو د عقلونو هغو کسانو چې ایمان راوړی دی په تحقیق نازل کړی دی الله جل جلاله تاسې ته ذکر نصیحت(قرآن))[4]. او همدارنګه الله جل جلاله داسې فرمایي: ﴿وَٱتَّقُونِ يَٰٓأُوْلِي ٱلْأَلْبَٰبِ﴾ [البقرة: ١٩٧].

١- تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان، ١٦١مخ.(وخص الله بالآيات أولي الألباب، وهم أهل العقول؛ لأنهم هم المنتفعون بها، الناظرون إليها بعقولهم لا بأبصارهم).

٢- أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي (المتوفى: ٧٧٤هـ)، تفسير القرآن العظيم (ابن كثير)،محقق: محمد حسين شمس الدين، خپرندوی: دار الكتب العلمية، منشورات محمد علي بيضون – بيروت، لومړی چاپ- ١٤١٩ هـ، لومړی ټوک، ٥٣٩مخ.(قَوْلُهُ: وَما يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُوا الْأَلْبابِ أَيْ وَمَا يَنْتَفِعُ بِالْمَوْعِظَةِ وَالتَّذْكَارِ إِلَّا مَنْ لَهُ لُبٌّ وَعَقْلٌ، يَعِي بِهِ الْخِطَابَ ومعنى الكلام).

٣- کابلی تفسیر، لومړی ټوک، ٣٨٢مخ.

٤- کابلی تفسیر، دریم ټوک، ١٧٤٢مخ.

تبیان ——————— په قرآن کریم کې د عقل د مترادفاتو څېړنه

(او ویرېږئ له ما څخه ای خاوندانو د(صافو) عقلونو)[1]. په ګڼو قرآني آیتونو کې تقوا له أولوالألباب سره یو ځای ذکر شوې ده چې دا تخصیص د قرآني خطاب د دقت او حکمت څرګندونه کوي؛ ځکه تقوا که څه هم عمومي امر دی، خو په هغې ژور ادراک او عملي التزام هغه چا ته نصیب کېږي چې عقل یې صفا او فهم یې مستقیم وي له همدې امله أولوالألباب د هغه فکري اهلیت استازیتوب کوی چې د الهي وصایاوو د درک او تطبیق وړتیا ولري. لکه علامه عبدالرحمن بن ناصر سعدي رحمه الله چې وایي:(دا د تقوا ستاینه ده بیا یې أولوالألباب ته وکړ او یې وفرمایل: ﴿وَٱتَّقُونِ يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ﴾ [البقرة: ١٩٧]

یعنې اې د سنجول شوو او پخو عقلونو خاوندانو! له خپل رب څخه ووېرئ هغه رب چې تقوا یې تر ټولو ستر امر دی چې عقلونه یې حکم کوي او پرېښودل یې د جهالت او د فاسد نظر نښه ده)[2]. له دې نظر څخه څرګندیږي چې تقوا یوازې یو تعبدي امر نه، بلکې یو عقلي ضرورت هم دی؛ یعنې سالم او متوازن عقل په خپله انسان د تقوا لور ته رهبري کوي له همدې امله قرآن کریم د تقوا امر په ځانګړي ډول أولوالالباب ته متوجه کوي، څو دا وښیي چې حقیقي عقل له تقوا سره ملازم دی او له هغې څخه انحراف د فکري فساد نښه ګڼل کېږي.

د: د غوره او ښیې لارې د پیروی له امله د هغوی ستاینه: الله جل جلاله داسې فرمایي: ﴿ ٱلَّذِينَ يَسۡتَمِعُونَ ٱلۡقَوۡلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحۡسَنَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَىٰهُمُ ٱللَّهُۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴾ [الزمر: ١٨].

(پس زېرې ورکړه ای محمده! بندګانو زما ته هغوی چې اوري خبره د (قرآن) پس متابعت کوي دوی ډېر ښه د هغه دا کسان دي چې سمه لار ښودلې دوی ته الله جل جلاله او همدغه کسان دي خاوندانو د خالصو عقلونو)[3].

١- کابلی تفسیر، لومړی ټوک، ٨٢مخ.

٢- تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان(تفسيرالسعدي)، ٩١مخ.(فهذا مدح للتقوى. ثم أمر بها أولي الألباب فقال: {وَاتَّقُونِ يَا أُولِي الألْبَابِ} أي: يا أهل العقول الرزينة، اتقوا ربكم الذي تقواه أعظم ما تأمر به العقول، وتركها دليل على الجهل، وفساد الرأي).

٣- کابلی تفسیر، دریم ټوک، ١٤١٦مخ.

تبيان ———— په قرآن کريم کې د عقل د مترادفاتو څېړنه

د أولوالألباب له ځانکړنو څخه دا ده چې هغوی د ګټور او زيانمن، د خير او شر او همدارنګه د ښه او بد تر منځ توپير پېژني، بلکې تردې هم لوړ د ښه او تر ټولو غوره (أحسن) ترمنځ توپير پېژني او هماغه غوره يې تعقيبوي که هغه په وينا کې وي او که په عمل کې، همدا د عقل حقيقي ماهيت او څرګنده نښه ده، لکه علامه عبدالرحمن بن ناصر سعدي رحمه الله چې د قرآن کريم د دې ﴿وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمْ أُوْلُواْ ٱلْأَلْبَٰبِ﴾ [الزمر: ١٨] آيت په اړه داسې واي:

(يعنې همدوی د پاکو او تزکيه شويو عقلونو خاوندان دي) د هغوی د لُب او پخوالي له نښو څخه دا ده چې هغوی د ښه او د بد ترمنځ تمييز کړی او هغه څه يې غوره کړي چې د غوره کولو وړ وي، همدا د عقل نښه ده او له دې پرته د عقل بله نښه نشته؛ ځکه هغه څوک چې د ويناوو ترمنځ د ښه او بد تمييز نه شي کولای د سالم عقل له خاوندانو څخه نه شمېرل کېږي او يا هغه څوک چې تمييز کولای شي، خو شهوت يې پر عقل غالب شي؛ نو عقل يې د شهوت تابع ګرځي او غوره نه تعقيبوي دا ډول انسان د ناقص عقل خاوند دی)[1].

د علامه سعدي رحمه الله تفسير د قرآني عقل عملي او ارزښتي اړخ ته اشاره کوي چې په هغه کې د تمييز تر څنګ اختيار هم اساسي رول لري يعنې حقيقي عقل يوازې د خير او شر پېژندنه نه، بلکې د غوره انتخاب تعقيب هم دی، له همدې امله کله چې عقل د نفس تر اثر لاندې راشي او خپل استقلاليت له لاسه ورکړي؛ نو خپل حقيقي وظيفوي مقام له لاسه ورکوي او دا حالت د عقل د نقص نښه ګڼل کېږي.

٢- حِجر

د قرآن کريم له هغو الفاظو څخه چې د عقل مترادف ګڼل شوي يو يې هم حِجر دی او عقل ته هم حِجر ويل شوی دی لکه چې وايي:(عقل ته حِجر ويل شوي دي، ځکه

١- تيسيرالكريم الرحمن في تفسير كلام المنان(تفسير السعدي)، ٧٢١مخ،({وَأُولَئِكَ هُمْ أُولُو الألْبَابِ} أي: العقول الزاكية. ومن لبهم وحزمهم، أنهم عرفوا الحسن من غيره، وآثروا ما ينبغي إيثاره، على ما سواه، وهذا علامة العقل، بل لا علامة للعقل سوى ذلك، فإن الذي لا يميز بين الأقوال، حسنها، وقبيحها، ليس من أهل العقول الصحيحة، أو الذي يميز، لكن غلبت شهوته عقله، فبقي عقله تابعا لشهوته فلم يؤثر الأحسن، كان ناقص العقل).

تبيان ———— په قرآن کريم کې د عقل د مترادفاتو څېړنه

چې انسان د هغه په وسيله له هغو شيانو څخه منع کېږي چې نفس يې ورته را بولي، الله جل جلاله داسې فرمايي: ﴿هَلۡ فِي ذَٰلِكَ قَسَمٞ لِّذِي حِجۡرٍ﴾[الفجر: ٥][1].

ژباړه:(آيا شته په دې قسمونو کې لوی قسم پوره خاوند د عقل ته(چې اعتبار پرې وکړي؟ هو! شته)[2]. همدارنګه عرب وايي:(فلانی ذوحجر يعنې د حِجر څښتن دی، يعنې هغه څوک چې پر خپل نفس غالب وي او ځان مهار او منظم ساتي)[3].

دېته په کتو ويلی شو چې دا تعبير د عقل هغه وظيفوي اړخ ته اشاره کوي چې انسان له خطا، ګناه او ناسم چلند څخه ساتي له همدې امله عقل په قرآني استعمال کې يوازې د ادراک وسيله نه، بلکې د کنټرول او ضبط يو اخلاقي ځواک هم ګڼل کېږي.

علامه الألوسي رحمه الله وايي:(حِجر عقل ته وايي؛ ځکه چې هغه خپل خاوند له هغو چارو څخه را ګرځوي او منع کوي يې چې نامناسب وي، هماغسې لکه چې عقل او نُهيه هم بلل شوی دی)[4].

د علامه الألوسي رحمه الله له دې تفسير څخه څرګندېږي چې حِجر د عقل هغه مهارکوونکی او ساتندوی اړخ دی چې انسان د نامناسبو او بې محاسبې کړنو څخه ژغوري؛ نو ويلی شو چې عقل په قرآني اصطلاح کې د ادراک ترڅنګ د انضباط، اعتدال او ځان مهارونې يو فعال اصل هم دی چې د انساني چلند د سمون او ثبات بنسټ جوړوي.

د حِجر کلمه په قرآن کريم کې د عقل په معنی يوازې يو ځای را غلې ده هغه هم د الله جل جلاله په دې قول کې ﴿هَلۡ فِي ذَٰلِكَ قَسَمٞ لِّذِي حِجۡرٍ﴾ [الفجر: ٥]

د دې آيت په تفسير کې ابن کثير رحمه الله داسې وايي:(آيا په دې کې د هغه چا لپاره قسم او عبرت شته چې د عقل، لُب، حِجا او دين خاوند وي؟ او عقل؛ ځکه حِجر

١- المفردات في غريب القرآن، ٢٢٠مخ.(فقيل للعقل حِجْر، لكون الإنسان في منع منه ممّا تدعو إليه نفسه وقال تعالى: (هَل فِي ذَٰلِكَ قَسَمٞ لِّذِي حِجرٍ) [الفجر: ٥])

٢- کابلی تفسير، درېيم ټوکو ١٨٨٥مخ.

٣- أبو زكريا يحيى بن زياد الفراء، معاني القرآن للفراء موافقا للمطبوع، خپرندوی: دارالمصرية للتأليف والترجمة، ٣ټوک، ٢٦٠مخ.(والعرب تقول : إنه لذو حجر إذا كان قاهرا لنفسه ضابطا لها).

٤- شهاب الدين محمود بن عبد الله الحسيني الألوسي (المتوفى: ١٢٧٠هـ)، روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني، محقق: علي عبد الباري عطية، خپرندوی: دار الكتب العلمية – بيروت، لومړی چاپ، ١٤١٥ هـ، ١٥ټوک، ٣٢٧مخ.(والحجر العقل لأنه يحجر صاحبه أي يمنعه من التهافت فيما لا ينبغي، كما سمي عقلا ونهية).

بلل شوی دی چې انسان له هغو کړنو او ویناوو څخه منع کوي چې د هغه له شان او مقام سره نه ښایي)[1].

دا تعریف د عقل د اخلاقي محور او کنټرولي اړخ څرګندونه کوي یعنې عقل یوازې د ادراک وسیله نه ده، بلکې د انساني رفتار د تنظیم او اصلاح بنسټیز اصل هم دی له همدې امله حقیقي عقل هغه دی چې انسان د ناوړه اقوالو او افعالو له تر سره کولو څخه ساتي او د وقار او اعتدال لور ته یې رهبري کوي.

البته باید ووایو چې د قرآن کریم په همدې یو آیت کې د حِجر لفظ د عقل مترادف دی،کنه په قرآن کریم کې د حِجر لفظ په مختلفو آیتونو کې راغلی دی؛ خو هلته د عقل په معنی نه دي؛ نو ځکه یې په دې مقاله کې نه ذکر کولو څخه صرف نظر کوو.

۳ – النُهی

په قرآن کریم کې دوه ځایه النُهی لفظ د عقل په معنی سره راغلی دی ابن فارس رحمه الله وایي: د(«ن، هـ، ی») توري یو صحیح اصل لري چې د پای، نهایت او رسېدو معنی افاده کوي، له همدې امله ویل کېږي «أنهيتُ إليه الخبر» یعنې ما هغه ته خبر ورساوه او د هر شي نهایة د هغه د غایت او پای ته ویل کېږي، همدارنګه «نهيتهُ عنه» یعنې ما هغه له یو کار څخه منع کړ؛ ځکه چې هغه یې تر سره کاوه؛ نو کله چې مې منع کړ او هغه ترې لاس واخیست دا د هغه کار پای او وروستی حد شو او (النُهية) عقل ته ویل کېږي؛ ځکه چې هغه انسان له ناوړه کړنو څخه منع کوي او د دې جمع نُهی ده)[2].

له دې تعریف څخه معلومېږي چې (النُهی) د عقل هغه پایله محور او کنټرولي اړخ ته اشاره کوي چې انسان د بدو کړنو له تر سره کولو څخه را ګرځوي او د عمل پایله په نظر کې نیسي، له همدې امله په قرآني استعمال کې (نُهی) هغه عقل ته ویل کېږي چې نه یوازې ادراک لري، بلکې د ارزښت محور منع او ځان مهارونې وړتیا هم لري او دا د عقل د کمال نښه ده.

۱- تفسير القرآن العظيم (ابن كثير)، ۸ټوک، ۳۸۴مخ. (أَيْ لذي عقل ولب ودين وحجا، وَإِنَّمَا سُمِّيَ الْعَقْلُ حِجْرًا لِأَنَّهُ يَمْنَعُ الْإِنْسَانَ مِنْ تَعَاطِي مَا لَا يَلِيقُ بِهِ مِنَ الْأَفْعَالِ وَالْأَقْوَالِ).

۲- معجم مقاييس اللغة، ۵ټوک، ۳۵۹مخ.((نهي) النون والهاء والياء أصلٌ صحيح يدلُّ على غايةٍ وبلوغ. ومنه أنهيت إليه الخَبر: بلَّغته إياه. ونِهايةُ كلِّ شيءٍ: غايته. ومنه نَهَيته عنه، وذلك لأمرٍ يفعله. فإذا نَهَيته فانتهى عنك فتلك غايةُ ما كان وآخِره. والنُّهْيَة: العقل، لأنَّه ينهَى عن قبيح الفِعل والجمع نهىً).

تبيان ـــــــــــــ په قرآن کريم کې د عقل د مترادفاتو څېړنه

له بل پلوه امام نووي رحمه الله داسې وايي:(عقل ته نُهية ځکه ويل کېږي چې د هغه څه ترحدودو پورې پاتې کېږي چې امر پرې شوی وي او له هغو څخه اوړي نه او همدارنګه ويل شوي دي چې؛ ځکه ورته نُهية وايي ويل کېږي چې له قبايحو څخه منع کوي او نهي په لغت کې د ثبات او حبس معنی لري او له همدې څخه د نِهي او نَهي په کسره او فتحه د نون سره راغلې ده او واحدي رحمه الله وايي: د نَهية د اشتقاق دواړه قولونه په يوه معنی را ګرځي او هغه حبس دی نو نُهية هغه ده چې له قبايحو څخه منع کوي والله اعلم)[1].

له دې څرګندېږي چې په قرآني ليد کې عقل يوازې د درک وسيله نه، بلکې د نفس د مهار او د بديو د مخنيوي يو فعال ځواک دی چې انسان د شريعت له حدودو څخه له اوښتو څخه ساتي او د اخلاقي ثبات تضمين کوي.

په قرآن کريم کې د (النُهى) لفظ په دوو آيتونو کې راغلی دی چې هغه دواړه آيتونه هم د طه په مبارک سورت دي، الله جل جلاله فرمايي: ﴿كُلُواْ وَٱرۡعَوۡاْ أَنۡعَٰمَكُمۡۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلنُّهَىٰ﴾ [طه: ٥٤].

(وخورئ تاسې ترې او څروئ(په کې) چارپايان خپل، بېشکه په دې(مذکورو شيانو کې) خامخا(د قدرت ډېر) دلائل دي لپاره د خاوندانو د عقل)[2]. او همدارنګه الله جل جلاله داسې فرمايي:﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلنُّهَىٰ﴾ [طه: ١٢٨].

(بېشکه په دې کې خامخا ډېر دلائل(دعبرت دي) خاوندانو د عقل ته)[3].

امام المفسرين أبو جعفر طبري رحمه الله وايي:(**{أُولِي النُّهَى}** يعنې د عقل او حِجا خاوندانو لپاره او النُهى د نهية جمع ده او الله جل جلاله دا خبره ځانګړې کړې

١- أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (المتوفى: ٦٧٦هـ)، المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج، دويم چاپ، ١٣٩٢هـ خپرندوی: دار إحياء التراث، العربي - بيروت، ۴ټوک، ١٥٥مخ.(وَسُمِّيَ الْعَقْلُ نُهْيَةً لِأَنَّهُ يَنْتَهِي إِلَى مَا أُمِرَ بِهِ وَلَا يَتَجَاوَزُ وَقِيلَ لِأَنَّهُ يَنْهَى عَنِ الْقَبَائِحِ وَالنَّهْيُ فِي اللُّغَةِ مَعْنَاهُ الثَّبَاتُ وَالْحَبْسُ وَمِنْهُ النِّهَى وَالنُّهَى بِكَسْرِ النُّونِ وَفَتْحِهَا، قَالَ الْوَاحِدِيُّ فَرَجَعَ الْقَوْلَانِ فِي اشْتِقَاقِ النُّهْيَةِ إِلَى قَوْلٍ وَاحِدٍ وَهُوَ الْحَبْسُ فَالنُّهْيَةُ هِيَ الَّتِي تَنْهَى وَتَحْبِسُ عَنِ الْقَبَائِحِ وَاللَّهُ أَعْلَمُ)

٢- کابلی تفسير، دويم ټوک، ٩٥٨مخ.

٣- کابلی تفسير، دويم ټوکو ٩٧٧مخ.

تبيان ـــــــــــــ په قرآن کريم کې د عقل د مترادفاتو څېړنه

ده چې دا نښې د أولو النهى لپاره دي؛ ځکه همدوی د تفکر او عبرت اخيستنې خلک دي او د تدبر او پند اخيستنې اهل دي)[1].

له دې تفسير څخه معلوميږي چې أولو النهى هغه فکري طبقه ده چې عقل يې د تأمل، تدبر او عبرت اخيستنې لپاره فعال ځواک ګرځېدلی دی؛ ځکه چې هغوی د عقل له کنټرولي او تأملي اړخ څخه په سمه توګه ګټه اخلي او د الهي نښو ژوره معنی درک کوي.

علامه عبدالرحمن بن ناصر سعدي رحمه الله وايي: ﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَٰتٍ لِّأُوْلِي ٱلنُّهَىٰ﴾ [طه: ١٢٨]

يعنې: په دې کې د هغو کسانو لپاره نښې دي چې د پخو او سنجول شوو عقلونو، د سم او مستقيم فکر خاوندان دي او د الله جل جلاله أولو النهى په دې سره ځانګړي کړي دي؛ ځکه همدوی دي چې له دغو نښو څخه ګټه اخلي او هغو ته د عبرت په نظر ګوري)[2].

او ځينو علماوو د نُهى او عقل ترمنځ تفکيک کړی دی او دا يې ګڼلې چې نُهى د عقل په پرتله لوړه مرتبه لري؛ لکه امام رازي رحمه الله چې وايي:(الله جل جلاله څرګنده کړه چې په دغو آيتونو کې د أولوالنُهى لپاره نښې دي؛ يعنې د عقل خاوندانو لپاره، خو تر ټولو نږدې دا ده چې نُهيه پر عقل يو امتياز او ځانګړنه لري؛ ځکه نهي يوازې د هغه چا لپاره کارول کېږي چې داسې عقل ولري چې هغه له قبايحو څخه راګرځوي، لکه څنګه چې د أولو العزم تعبير أولو الحزم په پرتله زيات امتياز لري، له همدې امله ځينو ويلي دي مراد د ورع او تقوا خاوندان دي)[3].

١- محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، أبو جعفر الطبري (المتوفى: ٣١٠هـ)، تفسير الطبري = جامع البيان عن تأويل آي القرآن، محقق: الدكتور عبد الله بن عبد المحسن التركي، خپرندوی: دار هجر للطباعة والنشر والتوزيع والإعلان، لومړی چاپ، ١٤٢٢ هـ - ٢٠٠١ م، ١٦ټوک، ٨٦مخ.({أُولِي النُّهَى} يَعْنِي: أَهْلَ الْحِجَى وَالْعُقُولِ. وَالنُّهَى: جَمْعُ نُهْيَةٍ، وَخَصَّ تَعَالَى ذِكْرُهُ بِأَنَّ ذَلِكَ آيَاتٌ لِأُولِي النُّهَى، لِأَنَّهُمْ أَهْلُ التَّفَكُّرِ وَالِاعْتِبَارِ، وَأَهْلُ التَّدَبُّرِ وَالِاتِّعَاظِ).

٢- تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان، ٥٠٧مخ.({إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَاتٍ لأولي النُّهَى} أي: لذوي العقول الرزينة، والأفكار المستقيمة،وخص الله أولي النهى بذلك، لأنهم المنتفعون بها، الناظرون إليها نظر اعتبار).

٣- أبو عبد الله محمد بن عمر بن الحسن بن الحسين التيمي الرازي الملقب بفخر الدين الرازي خطيب الري (المتوفى: ٦٠٦هـ)، مفاتيح الغيب = التفسير الكبير، خپرندوی: دار إحياء التراث العربي – بيروت، دويم چاپ- ١٤٢٠ هـ، ٢٢ټوک،١١٢مخ.(وَبَيَّنَ أَنَّ فِي تِلْكَ الْآيَاتِ آيَاتٌ لِأُولِي النُّهَى، أَيْ لِأَهْلِ الْعُقُولِ وَالْأَقْرَبُ أَنَّ لِلنُّهْيَةِ مَزِيَّةً عَلَى الْعَقْلِ، وَالنُّهَى لَا يُقَالُ إِلَّا فِيمَنْ لَهُ عَقْلٌ يَنْتَهِي بِهِ عَنِ الْقَبَائِحِ، كَمَا أَنَّ لِقَوْلِنَا: أُولُو الْعَزْمِ مَزِيَّةً على أولو الْحَزْمِ، فَلِذَلِكَ قَالَ بَعْضُهُمْ: أَهْلُ الْوَرَعِ وَأَهْلُ التَّقْوَى).

په ياد تحليل کې نُهى د عقل تکاملي بڼه بلل کېږي، يعنې هغه عقل چې نه يوازې درک کوي، بلکې انسان په فعاله توګه له بديو څخه را ګرځوي له همدې امله أولو النُهى د فکري بلوغ او اخلاقي التزام لوړه درجه تمثيلوي چې د ورع او تقوا له صفتونو سره مل وي او همدا ځانګړنه هغوى د قرآني خطاب د ځانګړې طبقې په توګه معرفي کوي.

۴ – الحِلم

له هغو الفاظو څخه چې په قرآني استعمال کې د عقل له مترادفاتو څخه ګڼل شوي حِلم دى، دا لفظ په قرآن کريم کې يوازې يو ځاى د عقل په معنى سره ذکر شوى او هغه هم د طور مبارک سورت کې چېرې چې الله جل جلاله فرمايي: ﴿**أَمْ تَأْمُرُهُمْ أَحْلَٰمُهُم بِهَٰذَآ**﴾ [الطور: ۳۲].

(آيا امر حکم کوي دوى ته عقلونه د دوى په دې کار)[۱].

خو د دقيق تحقيق له مخې حِلم د عقل حقيقي مترادف نه دى، بلکې د هغه له لوازمو او پايلو څخه شمېرل کېږي، يعنې هر څومره چې انسان عاقل وي په هماغه اندازه به حليم وي دې حقيقت ته راغب اصفهاني رحمه الله داسې اشاره کړې ده او وايي:(حِلم د نفس او طبيعت کنټرول دي داسې چې د غضب د را پاڅېدو پرمهال يې مهار کړي او جمع يې أحلام ده الله جل جلاله داسې فرمايي: ﴿**أَمْ تَأْمُرُهُمْ أَحْلَٰمُهُم بِهَٰذَآ**﴾ [الطور: ۳۲]

ويل شوي چې معنى يې عقلونه دي، خو په حقيقت کې حِلم عقل نه دى، بلکې مفسرينو هغه ځکه په عقل تفسير کړى دى چې دا د عقل له پايلو او لوازمو څخه دى)[۲].

حافظ ابن کثير رحمه الله د ذکر شوي آيت په تفسير کې داسې وايي:(آيا د هغوى عقلونه دوى ته امر کوي چې ستا په اړه دا ډول باطلې خبرې وکړي، هغه خبرې چې هغوى په خپلو نفسونو کې پوهېږي چې دروغ او دروغجنې دي؟)[۳].

۱- کابلى تفسير، درېيم ټوک، ۱۶۲۴مخ.

۲ المفردات في غريب القرآن، ۲۵۳مخ.(الحِلْم: ضبط النّفس والطبع عن هيجان الغضب، وجمعه أَحْلَام، قال الله تعالى: أَمْ تَأْمُرُهُمْ أَحْلامُهُمْ بهذا [الطور/ ۳۲] ، قيل معناه: عقولهم، وليس الحلم في الحقيقة هو العقل، لكن فسّروه بذلك لكونه من مسبّبات العقل).

۳- أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي (المتوفى: ۷۷٤هـ)، تفسير القرآن العظيم ،محقق: سامي بن محمد سلامة، خپرندوى: دار طيبة للنشر والتوزيع، درېيم چاپ، ۱٤۲۰هـ - ۱۹۹۹ م، ۷ټوک،

زمخشري رحمه الله وايي:(**أَحْلَامُهُم**: يعنې د هغوی عقلونه او لُبونه او له همدې څخه د عربو دا وينا ده: أحلام عاد، معنی داده چې آيا د هغوی عقلونه هغوی دې ته امر کوي چې په خبرو کې دا ډول تناقض څرګند کړي؟ يعنې دا چې يو لور ته وايي: کاهن او شاعر او بل لور ته وايي: مجنون)[1].

پورته ذکر شوي اقوال دا څرګندوي چې قرآني اصطلاحات لکه أحلام يوازې يو لغوي مترادف نه، بلکې د عقل بېلابېلو سطحو او د ادراک د درجې انعکاس دی چې د قرآني بيان ژور بلاغي او مفهومي تنوع څرګندوي، له پورته ذکر شوو اقوالو څخه د راغب اصفهاني قول غوره دی؛ ځکه چې نوموړی په خپل دقيق لغوي منهج کې حِلم د نفس د کنټرول او د غضب د مهار په معنی اخلي او بيا يې د عقل له لوازمو او پايلو څخه ګڼي؛ نه د عقل عين دا تفکيک ډېر مهم دی؛ ځکه چې هغه د علت او معلول ترمنځ فرق ساتي، يعنې عقل سبب او حِلم نتيجه او عملي بڼه ده.

په مقابل کې هغه اقوال چې حِلم يا أحلام د عقل مترادف ګڼي زياتره يا تفسيري استعمال لري لکه د آيت د سياق له مخې مجازي اطلاق يا د بلاغي اسلوب له اړتيا څخه را ولاړ شوي وي، نه د دقيق لغوي تعريف له مخې؛ نو هلته د عقل لفظ پر حِلم اطلاق د لازم له باب څخه دی؛ نه د حقيقت له باب څخه.

۵ – القلب

د قلب لفظ په قرآن کريم کې په (۱۳۲) ځايونو کې راغلی دی چې په مفرد، جمع او تثنيه بڼو استعمال شوی دی او د جمع استعمال يې تر نورو زيات دی.

ابن فارس رحمه الله وايي:(ق، ل، ب) توري دوه صحيح بنسټونه لري يو يې د هر شي د خالص او غوره برخې معنی څرګندوي او بل يې د يو شي له يوې خوا بلې خوا ته د اوښتو معنی لري، لومړی اصل يې قلب دی، لکه د انسان زړه او نور شيان او دا ځکه

۴۳۶مخ.(قَالَ تَعَالَىٰ: {أَمْ تَأْمُرُهُمْ أَحْلَامُهُمْ بِهَذَا} أَيْ: عُقُولُهُمْ تَأْمُرُهُمْ بِهَذَا الَّذِي يَقُولُونَهُ فِيكَ مِنَ الْأَقْوَالِ الْبَاطِلَةِ الَّتِي يَعْلَمُونَ فِي أَنْفُسِهِمْ أَنَّهَا كَذِبٌ وَزُورٌ؟).

۱- أبو القاسم محمود بن عمرو بن أحمد، الزمخشري جار الله (المتوفى: ۵۳۸هـ)، الكشاف عن حقائق غوامض التنزيل، خپرندوی: دار الكتاب العربي – بيروت، درېيم چاپ- ۱٤۰۷ هـ، ۴ټوک، ۴۱۳مخ.(أَحْلَامُهُمْ عقولهم وألبابهم. ومنه قولهم: أحلام عاد. والمعنى: أتأمرهم أحلامهم بهذا التناقض في القول، وهو قولهم:كاهن وشاعر، مع قولهم مجنون).

تبیان ———— په قرآن کریم کې د عقل د مترادفاتو څېړنه

قلب بلل شوی دی چې د انسان په وجود کې تر ټولو خالص، لوړ او شریفه برخه ده او د هر شي خالص او غوره برخه هم د هغه قلب بلل کېږي)[۱].

ځینې نورو علماوو داسې ویلي دي:(قلب ځکه بلل شوی دی چې ډېر تقلب او بدلون لري او په دې اړه یې دا شعر هم ویلی دی: **مَا سُمِّيَ القَلْبُ إِلَّا مِنْ تَقَلُّبه، ... والرَّأْيُ يَصْرِفُ بالإِنْسان أَطْوارا.**

(زړه یوازې د خپل تقلب له امله قلب نومول شوی دی او نظر انسان له یوه حالت څخه بل حالت ته اړوي او بېلابېلې مرحلې پرې تېروي)[۲].

له دې دواړو نظرونو څخه دا نتیجه تر لاسه کېږي چې قلب په قرآني او لغوي تصور کې هم د ادراک او شعور تر ټولو اصیل مرکز دی او هم یو متحرک او متأثر محور دی چې د حالاتو او انفعالاتو له مخې بدلېږي او همدا ځانګړنه یې د هدایت او انحراف لپاره حساس مرکز ګرځوي.

له بل لوري ابن منظور رحمه الله وایي:(کله؛ کله د قلب لفظ د عقل د بیان لپاره کارول کېږي)[۳].

همدارنګه داسې ویل شوي دي:(دا په عربي ژبه کې جایزه خبره ده، ویل کېږي، ستا زړه نشته، ستا زړه درسره نه دی او ستا زړه چېرته ولاړو چې په دې ټولو تعبیرونو کې عقل ور څخه مراد دی)[٤].

له دې لغوي استعمال څخه معلومېږي چې قلب په عربي بلاغت کې کله د عقل په معنی مجازي کارول کېږي؛ ځکه چې د اداراک او تصمیم مرکز ګڼل کېږي له همدې امله د زړه او عقل ترمنځ دا ژبنی انتقال د انساني شعور د باطني محور یو ګډ تصور څرګندوي چې په هغه کې احساس، فکر او ادراک یو له بل سره تړلي دي.

۱- معجم مقاييس اللغة، ۵ټوک، ۱۷مخ.((قلب) القاف واللام والباء أصلانِ صحيحان: أحدهما يدلّ على خالِص شَيءٍ وشَرِيفه، والآخَرُ على رَدِّ شيءٍ من جهةٍ إلى جهة.

فالأَوَّل القَلْبُ: قلب الإنسان وغيره، *سمِّي لأنَّه أَخْلصُ شيء فيه وأرفَعُه. وخالِصُ كلِّ شيءٍ وأشرفُه قَلْبُه).

۲- لسان العرب، لومړی ټوک، ٦٨٧مخ.(وَقَالَ بَعْضُهُمْ: سُمِّي القَلْبُ قَلْباً لتَقَلُّبِه؛ وأَنشد: مَا سُمِّيَ القَلْبُ إِلَّا مِنْ تَقَلُّبه، ... والرَّأْيُ يَصْرِفُ بالإِنْسان أَطْوارا).

۳- لسان العرب، لومړی ټوک، ٦٨٧مخ.(وَقَدْ يُعَبَّرُ بالقَلْبِ عَنِ العَقْل).

٤- أبو زكريا يحيى بن زياد بن عبد الله بن منظور الديلمي الفراء (المتوفى: ۲۰۷هـ)، معاني القرآن، محقق: أحمد يوسف النجاتي / محمد علي النجار / عبد الفتاح إسماعيل الشلبي، خپرندوی: دار المصرية للتأليف والترجمة – مصر، ۳ټوک، ۸۰مخ.(تقول: مالك قلب، وما قلبك معك، وأين ذهب قلبك؟ تريد العقل لكل ذَلِكَ).

تبیان ———— په قرآن کریم کې د عقل د مترادفاتو څېړنه

په قرآن کریم کې قلب په ډېرو ځایونو کې د عقل په معنی سره ذکر شوی دی لکه د الله جل جلاله دې قولونو کې چې فرمایي: ﴿أَفَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَتَكُونَ لَهُمۡ قُلُوبٞ يَعۡقِلُونَ بِهَآ أَوۡ ءَاذَانٞ يَسۡمَعُونَ بِهَاۖ فَإِنَّهَا لَا تَعۡمَى ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَلَٰكِن تَعۡمَى ٱلۡقُلُوبُ ٱلَّتِي فِي ٱلصُّدُورِ﴾ [الحج: ٤٦].

(آیا پس نه دي ګرځېدلي دوی(دغه کفار) په ځمکه کې، پس وي دوی لره زړونه چې فکر یې کولی په هغو(زړونو سره په بده خاتمه د کارونو) یا (وی دوی لره) غوږونه چې خبرې یې اورېدلی دوی په هغو(غوږونو سره د کفارو د هلاکت چې عبرت پرې واخلي) پس قصه دا ده چې نه دي ړندې سترګې(ظاهر د دوی) ولیکن ړانده دي زړونه د دوی هغه چې دننه په سینو د دوی کې دي(ځکه چې پرې عبرت نه اخلي)[1].

همدارنګه الله جل جلاله داسې فرمایي: ﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكۡرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُۥ قَلۡبٌ أَوۡ أَلۡقَى ٱلسَّمۡعَ وَهُوَ شَهِيدٞ﴾ [ق: ٣٧].

(بېشکه په دغو(مذکوره شیانو کې) خامخا ذکر او پند دی هر هغه چا لره چې وي هغه لره زړه روغ او فکر کوونکی، یا کېږدي غوږ نصیحت ته په داسې حال کې چې دی حاضر متوجه وي په زړه سره)[2].

حافظ ابن کثیر رحمه الله وایي:(یعنې داسې لُب چې په وسیله یې انسان درک او فهم کولای شي او مجاهد رحمه الله ویلي دي چې عقل ورځخه مراد دی)[3]. د پورته ذکر شوي آیت په تفسیر کې ابن کثیر رحمه الله وایي:(یعنې خبرې یې واورېدې، په زړه کې یې ځای کړلې، په عقل یې درک کړې او په لُب سره یې ژور فهم کړ)[4].

د ذکر شوي آیت په تفسیر کې امام طبري رحمه الله وایي:(د دې امت هغه چا ته چې عقل ولري څو له هغه عمل څخه ځان وساتي چې هغوی د خپل رب د کفر له امله تر سره کاوه د دې وېرې له امله چې داسې عذاب پرې نازل نه شي لکه پر هغوی چې نازل شوی وو)[5].

١- کابلی تفسیر، دویم ټوک، ١٠٣١مخ.

٢- کابلی تفسیر، درېیم ټوک، ١٦٠٧مخ.

٣- تفسیر القرآن العظیم (ابن کثیر)، ٧ټوک،٣٧٢مخ.(أَيْ لُبٌّ يَعِي بِهِ وَقَالَ مُجَاهِدٌ: عَقْلٌ).

٤- تفسیر القرآن العظیم (ابن کثیر)، ٧ټوک،٣٨٢مخ.(أي استمع الكلام فوعاه وتعقله بعقله وَتَفَهَّمَهُ بِلُبِّهِ).

٥- جامع البیان في تأویل القرآن،٢٢ټوک، ٣٧٢مخ. (لِمَنْ كَانَ لَهُ قَلْبٌ) یعني: لمن كان له عقل من هذه الأمة، فينتهي عن الفعل الذي كانوا يفعلونه من كفرهم بربهم، خوفا من أن يحلّ بهم مثل الذي حل بهم من العذاب).

په پای کې ویل شو چې قلب په قرآني لید کې یوازې یو جسماني غړی نه دی، بلکې د انسان د شعور، فکر او ادراک جامع مرکز دی چې هم د معرفت سرچینه ده او هم د هدایت او ضلالت د انتخاب حساس محور ګڼل کېږي.

٦ – الفؤاد

د عقل له مترادفاتو څخه یو هم (فؤاد) دی چې په قرآن کریم راغلی دی، دا لفظ په مفرد بڼه په پنځو ځایونو کې او په جمع بڼه په یوولسو ځایونو کې استعمال شوی دی، خو په دې ټولو ځایونو کې د عقل په معنی نه دی کارول شوی، بلکې یوازې په ځینو مواردو کې د عقل معنی افاده کوي په د مقاله کې هم تنها هغه آیتونه چې د«فؤاد» لفظ د عقل معنی افاده کوي لیکو او د موضوع د اوږدوالي په خاطر نور ځایونه یې دلته نه لیکو.

ابن فارس رحمه الله وایي:(ف، ا، د) توري یو صحیح اصل لري چې د تودوخې او سختې ګرمي معنی افاده کوي له همدې څخه دا جمله ده فأدت اللحم یعنې غوښه مې وسوځوله او فئید هغه څه ته ویل کېږي چې سوځول شوي وي او زمونږ په اند له همدې باب څخه فؤاد هم دی چې د خپلې تودوخې له امله داسې نومول شوی دی او الفأد د فأدته مصدر دی کله چې ته د چا فؤاد«زړه» ووهي یا اغېز پرې وکړي)[1].

المفردات في غريب القرآن کې داسې راغلي دي:(فؤاد قلب په څېر دی، خو هغه مهال ورته فؤاد ویل کېږي چې په کې د تفؤد معنی په پام کې ونیول شي، یعنې د بلبدو، تاوېدو او د دروني تودوخې او تحرک حالت)[2].

لکه دا قول د الله جل جلاله چې فرمایي: ﴿إِنَّ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡبَصَرَ وَٱلۡفُؤَادَ كُلُّ أُوْلَٰٓئِكَ كَانَ عَنۡهُ مَسۡـُٔولٗا﴾ [الإسراء: ٣٦]. (ببشکه غوږ او سترګه او زړه هر یو له دغو(درې واړو) دي له هغه څخه پوښتنه کړی شوې(په قیامت کې چې تا په دنیا کې ولې ګناه کوله)[3].

١- معجم مقاييس اللغة، ۴ټوک، ۴٦٩مخ.(الفاء والألف والدال هذا أصلٌ صحيح يدلُّ على حُمَّى وشِدّةِ حرارة. من ذلك: فأدْتُ اللَّحمَ: شويته. وهذا فَئِيدٌ، أي مشويّ، ومما هو مِن قياس الباب عندنا: الفُؤاد، سمِّي بذلك لحرارته. والفأد: مصدر فأدتُه، إذا أصبتَ فؤاده).

٢- المفردات في غريب القرآن، ٦٤٦مخ.(الْفُؤَادُ كالقلب لكن يقال له: فُؤَادٌ إذا اعتبر فيه معنى التَّفَؤُّدِ، أي: التّوقّد).

٣- کابلی تفسیر، دویم ټوکو ٨٦١مخ.

تبيان ———— په قرآن کريم کې د عقل د مترادفاتو څېړنه

او د فؤاد جمع أَفْئِدَةٌ ده لکه دا قول د الله جل جلاله چې فرمايي: ﴿ رَّبَّنَآ إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٖ غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ عِندَ بَيۡتِكَ ٱلۡمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱجۡعَلۡ أَفۡـِٔدَةٗ مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهۡوِيٓ إِلَيۡهِمۡ وَٱرۡزُقۡهُم مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَشۡكُرُونَ﴾ [إبراهيم: ٣٧].

(ای ربه زمور! بېشکه چې ما استوګن کړي دي ځينې له اولاد(چې اسماعيل او اولاد يې دی) په داسې ناو کې چې نه دی خاوند د فصل په نزد د کوټې ستا چې د عظمت والا ده، ای ربه زمور! استوګن مې کړل دوی دلته د دې لپاره چې سم اداء کړی لمونځ؛ نو وګرځوه زړونه د ځينو خلکو په مينه او رزق روزي ورکړه دوی ته له هر قسمه مېوو څخه لپاره د دې چې دوی شکر وباسي)[1].

زبيدي رحمه الله وايي:(تفؤد د سوځېدو او تاوېدنې معنی لري او فؤاد په ضم سره له همزه سره د همدې بلېدو او تودوخې له امله داسې نومول شوی دی)[2].

او همدارنګه ډېرو مفسرينو ويلي دي:(د فؤاد اطلاق په عقل باندې کېږي لکه دا قول د د الله جل جلاله چې فرمايي: ﴿مَا كَذَبَ ٱلۡفُؤَادُ مَا رَأَىٰٓ﴾ [النجم: ١١])[3].

(او ويل شوي دي چې د فأد اصل حرکت او تحرک دی او له همدې څخه فؤاد اخيستل شوی؛ ځکه چې هغه ډېر ټکان خوري او په دوامداره توګه حرکت کوي دا نظر ډېر څرګند او قوي دی؛ ځکه چې د فؤاد دا معنی هېڅکله هم له خپل اصل څخه نه بېلېږي او د قلب سره مترادف دی لکه څنګه چې په پيل کې يادونه شوې وه او همدا هغه قول دی چې ډېرې علماء پرې ولاړ دي)[4].

په پای کې ويلی شو چې فؤاد په قرآني اصطلاح کې د انساني ادراک هغه ژوره، متحرکه او انفعالي کچه بيانوي چې د معرفت تر څنګ د احساس او دروني اړخ هم را نغاړي او دا يې د عقل د مترادفاتو په ډله کې يو ځانګړی او متمايز مقام ګرځولی دی.

١- کابلی تفسير، دويم ټوک، ٧٧٢مخ.

٤- محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق الحسيني، أبو الفيض، الملقّب بمرتضى، الزَّبيدي (المتوفى: ١٢٠٥هـ)، تاج العروس من جواهر القاموس، محقق: مجموعة من المحققين، خپرندوی: دار الهداية، ٨ټوک، ٤٧٦مخ.(والتَّفَؤُّدُ: التَحَرُّقُ، سُمِّيَ (الفُؤَادُ) ، بالضَّمّ، مهموزاً).

٣- تاج العروس من جواهر القاموس، ٨ ټوک ٤٧٧مخ.(وَقَالَ جماعةٌ من المُفَسِّرين: يُطلَقُ الفُؤادُ على العَقْلِ{مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى} (النَّجْم: ١١).

٤- تاج العروس من جواهر القاموس، ٨ټوک، ٤٧٦مخ.(وقيل أَصْلُ الفأْدِ ، الحَرَكَةُ والتَّحْرِيكُ ، ومنه اشتُقَّ الفُؤادُ ، لأَنَّه يَنْبِضُ ويَتَحَرَّك كثيراً، هاذا أَظهَرُ لعَدمِ تَخلُّفه ومُرادفتِه (للقَلْبِ) كما صَدَّر به ، وهو الذي عليه الأَكثر).

تبيان ـــــــــــــ په قرآن کريم کې د عقل د مترادفاتو څېړنه

د فؤاد او قلب ترمنځ توپير

د علماوو د اقوالو د مطالعې له مخې چې د فؤاد او قلب په تعريف کې راغلي دي ځينو د دواړو ترمنځ تفکيک کړی او ځينو يې نه دی کړی، ازهري رحمه الله وايي:(ما ځيني عرب وليدل چې د زړه ټوله ټوټه د هغې وازده(چربي) او پوښ ټول قلب او فؤاد بولي او ما ونه ليدل چې هغوی د دې دواړو ترمنځ کوم فرق وکړي)[1].

دا قول ښيي چې په اصلي لغوي او عرفي استعمال کې قلب او فؤاد ډېر وخت مترادف کارول شوي او ترمنځ يې واضح تفکيک نه و شوی، خو د علماوو د دقيقو تحليلونو له مخې وروسته مفهومي تفکيک را منځته شوی چې په کې قلب د ادراک عمومي مرکز او فؤاد د هغه ژوره، متحرکه او انفعالي بڼه ګڼل کېږي دا توپير د قرآني اصطلاحاتو د تدريجي دقيق سازۍ او د مفاهيمو د ژورتيا څرګندونه کوي.

ځينو هغو علماوو چې د قلب او فؤاد ترمنځ يې تفکيک کړی دا نظر لري چې قلب تر هغه وخته فؤاد نه بلل کېږي تر څو چې په کې د تفؤد معنی(بلېدنه او دروني تودوخه) په پام کې و نه نيول شي، ښايي له هغو دقيقو توپيرونو څخه يو دا هم وي چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم له کلامه په کې د يمن د خلکو د صفت په بيان کې اخيستل کېږي؛ هلته چې فرمايي: «**أَتَاكُمْ أَهْلُ الْيَمَنِ، هُمْ أَرَقُّ أَفْئِدَةً وَأَلْيَنُ قُلُوبًا**»[2].

(تاسو ته د يمن خلک راغلل د هغوی فؤادونه ډېر نرم دي او زړونه يې لا نرم او لين دي).

دا نبوي تعبير د فؤاد او قلب ترمنځ يو لطيف معنوي توپير څرګندوي«أرقُ أفئدة» د دروني احساس، لطافت او ژور تأثر حالت ته اشاره کوي حال دا چې«ألين قلوباً»د عمومي اخلاقو، نرمۍ او انعطاف څرګندونه کوي؛ نو له دې څخه څرګنديږي چې فؤاد د احساساتي او انفعالي اړخ استازيتوب کوي او قلب د هغه عمومي او اخلاقي حالت بيانوي چې دا د دواړو ترمنځ يو دقيق او تکميلي توپير څرګندوي.

د ذکر شوي حديث شريف په اړه خطابي رحمه الله داسې وايي:(فؤاد د زړه پوښ او غشا دی؛ نو کله چې دا نازک وي خبره ترې تېريږي او د ننه اصلي مرکز ته رسيږي او

۱- لسان العرب، لومړی ټوک، ٦٨٧مخ.(قَالَ الأَزهري: ورأَيت بعضَ الْعَرَبِ يُسَمِّي لحمةَ القَلْبِ كُلها، شَحْمَها وحِجابَها: قَلْباً وفُؤَاداً، قَالَ: وَلَمْ أَرهم يَفْرِقُونَ بَيْنَهُمَا).

۲- محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه = صحيح البخاري، محقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، خپرندوی: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤاد عبد الباقي)، لومړی چاپ، ١٤٢٢هـ، ۵ټوک، ۱۷۳مخ،(۴۳۸۸حديث).

که دا سخت وي؛ نو د خبرې رسېدل د ننه ته ستونزمن کېږي او کله چې زړه نرم وي؛ نو هر څه چې ورسره مخ شي ورپورې نښلي يعنې اغېز وربانديې کوي)[1].

د خطابي رحمه الله دا تفسير د فؤاد او قلب ترمنځ يو دقيق تشريحي توپير وړاندې کوي چې فؤاد د ادراک د دروازې او منځګړي په توګه انځوروي او قلب د منلو او تأثر اصلي مرکز ګڼي، له همدې امله د فؤاد نرمي د فهم او نفوذ سبب ګرځي او د قلب نرمي د قبول او تأثر زمينه برابروي چې دا دواړه په ګډه د هدايت د تحقق اساسي عوامل دي.

الكليات کتاب ليکوال داسې وايي:(فؤاد د زړه پوښ دی او قلب د هغه دانه او اصلي هسته ده او همدارنګه ويل شوي دي چې فؤاد د زړه باطني برخه ده)[2].

پورته ذکر شوي اقوال د قلب او فؤاد ترمنځ د اړيکې دوه تفسيري اړخونه څرګندوي يو يې فؤاد د زړه د محافظتي او احاطوي قشر په توګه معرفي کوی او بل يې د زړه ژوره او باطني برخه ګڼي، که څه هم دا دواړه تعبيرونه په ظاهره متفاوت دي، خو په حقيقت کې دواړه د دې خبرې تأييد کوي چې فؤاد د زړه له حقيقت سره نږدې تړلی اړخ دی چې د ادراک، تأثر او دروني تعامل په بهير کې ځانګړی رول لري.

پايلې

د دې تحقيق او څېړنې په نتيجه کې لاندې پايلو ته رسېږو:

۱ - د عقل مهم مترادفات په قرآن کريم کې عبارت دي له، اللُب، الحِجر، النُهى، القلب، الفؤاد او په ځينو مواردو کې الحِلم، خو دا ټول په يو شان درجه او معنى نه دي، بلکې هر يو ځانګړی اړخ افاده کوي.

۲ -لُب د عقل خالصه او صفا بڼه ده چې د کمال، ژور ادراک او حکمت د درک وړتيا څرګندوي او له همدې امله أولو الألباب د قرآني خطاب ځانګړې مخاطبه طبقه ده.

۱- أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي، فتح الباري شرح صحيح البخاري، خپرندوی: دار المعرفة - بيروت، ۱۳۷۹ه ق، ۸ټوک، ۱۰۰مخ.(قَالَ الْخَطَّابِيُّ قَوْلُهُ هُمْ أَرَقُّ أَفْئِدَةً وَأَلْيَنُ قُلُوبًا أَيْ لِأَنَّ الْفُؤَادَ غِشَاءُ الْقَلْبِ فَإِذَا رَقَّ نَفَذَ الْقَوْلُ وَخَلَصَ إِلَى مَا وَرَاءَهُ وَإِذَا غَلُظَ بَعُدَ وُصُولُهُ إِلَى دَاخِلٍ وَإِذَا كَانَ الْقَلْبُ لَيِّنًا عَلِقَ كل مَا يصادفه).

۲- أيوب بن موسى الحسيني القريمي الكفوي، أبو البقاء الحنفي (المتوفى: ۱۰۹٤هـ)، الكليات معجم في المصطلحات والفروق اللغوية، محقق: عدنان درويش - محمد المصري، خپرندوی: مؤسسة الرسالة – بيروت، ٦٩٦مخ.(فالْفُؤَاد: غشاء الْقلب، وَالْقلب حبته وسويداه يُؤَيّد، الْقلب، وَقيل الْفُؤَاد بَاطِن الْقلب).

۳ - الحِجر د عقل هغه کنټرولي او مهارکوونکی اړخ دی چې انسان له ناسمې کړنې او بې محاسبې چلند څخه منع کوي او دا د عقل اخلاقي وظیفه تمثیلوي.

٤- النُهی د عقل لوړه تکاملي درجه ده چې نه یوازې درک کوي، بلکې انسان له قبایحو څخه را ګرځوي؛ له همدې امله ځینو علماوو دا د عقل ترکچې لوړه مرتبه بللې ده.

٥ - الحِلم د عقل حقیقي مترادف نه دی، بلکې د هغه له لوازمو او پایلو څخه دی چې د نفس د کنټرول، صبر او اعتدال په بڼه څرګندیږي.

٦ - القلب په قرآني اصطلاح کې د ادراک، شعور او فهم مرکزي محور دی چې د انساني معرفت او هدایت اساس جوړوي او د عقل له مفهومي ساحې سره ژوره اړیکه لري.

۷ - الفؤاد د قلب ځانګړې، ژوره او محرکه بڼه ده چې د شدت، تأثر، تپش او فعال شعوري تعامل استازیتوب کوي او د عقل له مفهومي ساحې سره ژوره اړیکه لري.

۸ - د قلب او فؤاد ترمنځ اړیکه تکمیلي ده؛ ځکه قلب عمومي ادراکي مرکز دی او فؤاد د هغه فعاله او انفعالي کچه ده، که څه هم ځینې علماء یې مترداف هم کاروي.

۹- قرآن کریم عقل د هدایت له نظام سره تړي او هغه عقل ارزښتمن ګڼي چې د تقوا، تدبر او عمل لور ته رهبري وکړي نه یوازې نظري پوهې ته.

۱۰- په قرآن کریم کې اللُب لفظ«١٦» ځله، د الحِجر لفظ«١» ځل، د النُهی لفظ«٢» ځله، د القلب لفظ«١٣٢»ځله، د الفؤاد لفظ«١٦» ځله او د الحِلم لفظ یو ځل د عقل په معنی سره راغلي دي.

وړاندیزونه

د پورته څېړنې په رڼا کې لاندې وړاندیزونه کېږي:

١ – د پوهنتونونو د شرعیاتو، اسلامي علومو او عربي ژبې په نصابونو کې دې د قرآن کریم د عقل د مفاهیمو او مترادفاتو ځانګړې موضوع شامله شي؛ ځکه دا د تدبر، تفکر او علمي استدلال په پیاوړتیا کې مهم رول لري.

٢ – د لوړو زده کړو او علمي څېړنو په مرکزونو کې دې د قرآني مفاهیمو په ځانګړې توګه د عقل، فکر، تدبر او حکمت په اړه تخصصي سیمینارونه او علمي کنفرانسونه باید جوړ شي.

تبیان ———— په قرآن کریم کې د عقل د مترادفاتو څېړنه

۳ – د قرآني مفاهیمو د عامه پوهاوي لپاره دې داسې علمي او روزنیز پروګرامونه جوړ شي چې د عقل، تدبر او تفکر قرآني ارزښتونه په ټولنه کې پیاوړي کړي.

ماخذونه

۱ – قرآن کریم.

۲- ابن فارس، أبو الحسين أحمد بن زكريا، معجم مقاييس اللغة، محقق: عبد السلام محمد هارون، خپرندوی: دار الفكر، د چاپ کال: ۱۳۹۹هـ - ۱۹۷۹م.

۳ - ابن كثير، أبو الفداء إسماعيل بن عمر القرشي البصري ثم الدمشقي (المتوفى: ۷۷٤هـ)، تفسير القرآن العظيم (ابن كثير)،محقق: محمد حسين شمس الدين، دار الكتب العلمية، منشورات محمد علي بيضون – بيروت، لومړی چاپ- ۱٤۱۹ هـ کال.

٤ - ابن منظور، محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين الأنصاري الرويفعى الإفريقى ، لسان العرب، خپرندوی: دار صادر – بيروت، دربیم چاپ، ۱٤۱٤ هـ کال.

٥- أبو البقاء، أيوب بن موسى الحسيني القريمي الكفوي، الحنفي (المتوفى: ۱۰۹٤هـ)، الكليات معجم في المصطلحات والفروق اللغوية، محقق: عدنان درويش - محمد المصري، خپرندوی: مؤسسة الرسالة – بيروت، چاپ کال(...).

٦- الألوسي ، شهاب الدين محمود بن عبد الله الحسيني (المتوفى: ۱۲۷۰هـ)، روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني، محقق: علي عبد الباري عطية، خپرندوی: دار الكتب العلمية – بيروت، لومړی چاپ، ۱٤۱٥ هـ کال.

۷- بخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله الجعفي، الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه = صحيح البخاري، محقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، خپرندوی: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤاد عبد الباقي)، لومړی چاپ، ۱٤۲۲هـ کال.

۸ - رازي، أبو عبد الله محمد بن عمر بن الحسن بن الحسين التيمي الرازي الملقب بفخر الدين خطيب الري (المتوفى: ٦۰٦هـ)، مفاتيح الغيب = التفسير الكبير، خپرندوی: دار إحياء التراث العربي – بيروت، دويم چاپ- ۱٤۲۰ هـ کال.

۹- راغب، أبو القاسم الحسين بن محمد المعروف الأصفهانى (المتوفى: ٥۰۲هـ)، المفردات في غريب القرآن، محقق: صفوان عدنان الداودي، خپروندوی: دار القلم، الدار الشامية - دمشق بيروت،لومړی چاپ- ۱٤۱۲ هـ، کال.

١٠- زبيدي، محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق الحسيني، أبو الفيض، الملقّب بمرتضى (المتوفى: ١٢٠٥هـ)، تاج العروس من جواهر القاموس، محقق: مجموعة من المحققين، خپرندوی: دار الهداية، چاب کال(...).
١١- زمخشري، أبو القاسم محمود بن عمرو بن أحمد، جار الله ، الكشاف عن حقائق غوامض التنزيل، خپرندوی: دار الكتاب العربي – بيروت، درېيم چاپ- ١٤٠٧ هـ کال.
١٢- سعدي، عبد الرحمن بن ناصر بن عبد الله (المتوفى: ١٣٧٦هـ)، تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان، محقق: عبد الرحمن بن معلا اللويحق، خپرندوی: مؤسسة الرسالة، لومړی چاپ، ١٤٢٠هـ -٢٠٠٠ م کال.
١٣- طبري، محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، أبو جعفر (المتوفى: ٣١٠هـ)، تفسير الطبري = جامع البيان عن تأويل آي القرآن، محقق: الدكتور عبد الله بن عبد المحسن التركي، خپرندوی: دار هجر للطباعة والنشر والتوزيع والإعلان، لومړی چاپ، ١٤٢٢ هـ - ٢٠٠١ م کال.
١٤- عثماني، شبيراحمد، ديوبندي، محمودالحسن، کابلی تفسير، ژباړن، يو شمېر جيد علماء، مكتبه رشيديه، لومړی چاپ، ٢٠١٧م کال، لومړی ټوک، ١٢١مخ.
١٥- عسقلاني، أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل الشافعي، فتح الباري شرح صحيح البخاري، خپرندوی: دار المعرفة - بيروت، ١٣٧٩هـ ق کال.
١٦- فراء، أبو زكريا يحيى بن زياد الفراء، معاني القرآن للفراء موافقا للمطبوع، خپرندوی: دارالمصرية للتأليف والترجمة، چاپ کال(...).
١٧- نووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف (المتوفى: ٦٧٦هـ)، المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج، دويم چاپ، ١٣٩٢هـ خپرندوی: دار إحياء التراث، العربي – بيروت.

څېړنوال مفتي محمد نبي «الميداني»

په اسلام کې د امیر حقوق

ملخص البحث

تتناول هذه الدراسة حقوقَ الأمير، وقد أُجريت وفق المنهج التحليلي الوصفي، بالاعتماد على التوعية العامة. وقد بحثت الدراسة حقوقَ الأمير تجاه رعيته، ومن أبرزها: طاعته، ومساعدته، ونصرته، والدفاع عنه، ومحبته، ونصحه، واحترامه. كما تشمل حقوقه الشرعية الدعاء له بالخير والصلاح في أوقات الإجابة، والامتناع عن الدعاء عليه أو سَبِّه وشتمه، وتنبيهه وإيقاظه عند الغفلة، وإطلاعه على تصرفات المسؤولين وأعمالهم، ودعوة المخالفين إلى طاعته. وقد أوجب الشرع الإسلامي الحنيف على الرعية القيام بهذه الحقوق والالتزام بها. وفي ختام المقالة، عُرضت مجموعة من النتائج والتوصيات المفيدة.

د څېړنې لنډیز

دا څېړنه د عامه پوهاوي د هدف پر اساس د تحلیلي او توصیفي منهج په بڼه ترسره شوې ده. په دې څېړنه کې په رعیت د امیر حقوق څېړل شوي؛ امیر په خپل رعیت حق لري چې اطاعت به یې کوي، له هغه سره مرسته، ملاتړ، دفاع، محبت، نصیحت او احترام یې له مهمو حقوقو څخه دي، همدا راز امیر ته د اجابت په وختونو کې د خیر او صلاح دعاوې کول، له ښېراوو او ښکنځلو څخه یې ډډه کول، د غفلت پرمهال یې بیدارول، د مسئولینو له کړنو یې خبرول او مخالف خلک یې اطاعت ته رابلل یې هم شرعي حقوق دي، چې د اسلام سپېڅلي دین/ شریعت یې رعیت په ترسره کولو مکلف کړی دی. د مقالې په پای کې نتایج او مفید وړاندیزونه هم شوي دي.

اساسي کلمات: اسلام، امیر، حقوق.

مقدمه: الحمد لله رب العٰلمین، والصلوٰة والسلام علی سید المرسلین وعلی آله وأصحابه أجمعین، وبعد:

په افغانستان کې څو لسیزې خلکو ارام ژوند نه درلود، د خلکو حقوق تر پښو لاندې ؤ، بشپړ شرعي نظام شتون نه درلود، ګران هېواد د پردي پالو، غربي او شرقي لیوانو تر استعمار لاندې ؤ، د ستر خالق په نصرت د قهرمان او مظلوم اولس په قربانیو ټول حیوان صفته اشغالګر وشړل شول، چې په پایله کې یې یوځل بیا یو سوچه او سپېڅلی شرعي نظام واکمن شو، د دې نظام په رأس کې داسې سپېڅلي د وخت مجاهد علماء قرار لري چې په اوس عصر کې پر امت تر ټولو زیات مشفق او مهربانه دي، شپه او ورځ د رعیت په خدمت کې مصروف او د هېواد زخمونه پټې کوي، هر ګام یې د عامه مصلحت پر اساس د دین، هېواد او هېوادوالو په ګټو را څرخي، دا ټول د دې لپاره چې کړېدلی او مظلوم اولس د آرام ساه واخلي او له خپلو حقوقو برخمن شي، بل خوا په عام اولس لازمه ده چې د خپل شرعي نظام تر شا نور هم کلک ودربېږي، په هره برخه کې یې حمایت وکړي، د خپلو امراوو اطاعت وکړي او الله تعالی ته شکر اداء کړي. په دې مقاله کې به د اسلام له نظره پر خلکو د امیر حقوق وڅېړل شي، څو معلومه شي چې امیر پر خلکو کوم حقوق لري او په ورکړه کې یې کوښښ وکړي، إن شاء الله تعالی.

د څېړنې ارزښت: ځینې مسائل داسې وي چې د ټولنې تر یوه قشر پورې نه وي ځانګړي شوي، بلکې هر وګړی یې په زده کړه او ترسره کولو مکلف وي، د امیر حقوق پېژندل او بیا یې په ورکړه او ترسره کولو کې کوښښ کول، یو له مهمو او ارزښتناکو مسائلو څخه ګڼل کیږي، بناءً داسې څېړنې چې د وخت له اړتیاوو سره سمې وي، خورا زیات ارزښت لري؛ ځکه د داسې څېړنو پر مټ د الله تعالی او خلکو حقوق اداء کیږي او دا د دنیوي او اخروي سعادت لامل کیږي.

د څېړنې لامل: د دې څېړنې یو له اساسي لاملونو څخه دا و چې د امیر د حقوقو اړوند کومه مستقله څېړنه مې تر سترګو نه شوه، په داسې حال کې چې دا د وخت له سختو اړتیاوو څخه وه؛ نو دا چې له یوې خوا دا مسئله ډېره مهمه او ډېر مسائل ورسره تړلي دي او له بلې خوا عام خلک په دې اړه پوهاوی نه لري؛ نو ما هم وپتېله چې په اړه یې بشپړ معلومات را ټول او یاده موضوع په ښه شان سره وڅېړل شي.

د څېړنې اهداف: دا څېړنه لاندې موخې په بر کې نیسي:

١. د شرعي امير پېژندنه؛

٢. په اسلام کې د امير د حقوقو بيان او وضاحت؛

٣. د امير د حقوقو په ورکړه کې کوښښ کول؛

٤. د امير د حقوقو اړوند عامه پوهاوی رامنځته کول.

اصلي پوښتنه: آيا په اسلام کې امير پر خلکو باندې ځانګړي حقوقو لري؟

فرعي پوښتنې

١.شرعي امير چا ته ويل کيږي؟

٢.په اسلام کې د امير حقوق کوم دي؟

٣.په اسلام کې د امير د حقوقو ورکړه څومره مهمه بلل شوې؟

د څېړنې منهج او تګلاره: او د څېړنه د تحليلي او توصيفي تګلارو پر مټ تر سره شوې ده چې په ترڅ کې يې کتابونو معلوماتو نورو منابعو ته مراجعه شوې.

د حق پېژندنه: حق له فَعَلَ يَفْعِلُ څخه د مصدر صيغه ده، حَقَّ يَحِقُّ حَقّاً، چې د ثَبَتَ او وَجَبَ په معنی دی[1]. شريعت د هرچا او هر شي حقوق ټاکلي دي؛ لکه: حقوق الله، حقوق العباد، په اولاد د مور او پلار حقوق، په شاګردانو د استاذ حقوق، د خاوند په ښځه او د ښځې په خاوند حقوق، د مشرانو حقوق، د کشرانو حقوق او داسې نور، همدا راز زمور په سپځلي شريعت کې په امير المؤمنين د خلکو حقوق او د اميرالمؤمنين په خلکو حقوق هم بيان شوي دي. په دې څېړنه کې يوازې پر خلکو د اميرالمؤمنين حقوق بيانيږي. په دې اړه رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې فرمايلي دي: **وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ بَعْدِي أَثَرَةً وَأُمُورًا تُنْكِرُونَهَا» قَالُوا: فَمَا تَأْمُرُنَا يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: «أَدُّوا إِلَيْهِم حَقَّهُمْ وَسَلُوا اللهَ حَقَّكُمْ»**[2].

ژباړه: له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې مور ته رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ښېشکه تاسو به له ما وروسته داسې امراء ووينئ چې (خپل ځان او دوستانو) ته به ترجيح ورکوي او داسې کارونه به ووينئ چې بد به يې ګڼئ، صحابه کرامو وويل: اې د الله رسوله صلى الله عليه وسلم مور ته څه امر کوې؟ رسول

---

(١)- [لسان العرب لابن منظور الإفريقي ١٠/ ٤٩]

(٢)- [مشكاة المصابيح ٢/ ١٠٨٧، د حديث شمېره: ٣٦٧٢]

الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د دوی حقوق ورکړئ او خپل حق مو له الله جل جلاله څخه وغواړئ.

او په بل حدیث کې یې داسې فرمایلي دي: **عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَجُلٌ سَأَلَهُ فَقَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ عَلَيْنَا أُمَرَاءُ يَمْنَعُونَا حَقَّنَا وَيَسْأَلُونَا حَقَّهُمْ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا فَإِنَّمَا عَلَيْهِمْ مَا حُمِّلُوا وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ»**[1].

ژباړه: علقمه بن وائل بن حجر له خپل پلار څخه روایت کوي هغه وایي چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوربدلي دي چې یوه سړي پوښتنه ترې وکړه، وې ویل: خبر راکړه که پر موږ داسې امراء ټاکل شوي وي چې له موږ څخه زموږ حق منعه کوي (حق مو نه راکوي) او له موږ څخه خپل حقوق غواړي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: سمعه او اطاعت وکړئ، ببشکه پر دوی هغه څه دي چې دوی پرې مسئول شوي دي او پر تاسو هغه څه دي چې تاسې پرې مسئول شوي یاست.

پورته نبوي احادیثو ته په کتو هر مسلمان ته لازمه ده چې په هر وخت او هر حالت کې د خپلو امراوو حقوق ورکړي، له هغوی څخه مخالفت ونه کړي، له اطاعت څخه یې ونه وځي، چې خدای مه کړه په ستره ګناه کې به واقع شي.

د امیرالمؤمنین حقوق: دا چې سپښلي شریعت امیر المؤمنین ته ځانګړي حقوق ورکړي او خلک یې په ترسره کولو مکلف کړي، نو اړینه ده چې دا حقوق وپېژندل شي، په دې څېړنه کې د یادو حقوقو په راټولولو کې هڅه شوې، چې شاید ځینې حقوق یې له لیکوال څخه پاتې شوي وي، خو حتی الوسع یې په را ټولولو کې کوښښ شوی دی، چې په لاندې ډول ذکر کیږي.

لومړی حق: د امیر اطاعت کول: د امیر له سترو حقوقو څخه یو دا دی چې د هغه اطاعت به کیږي، د هغه د اطاعت موضوع په بېلابېلو فرعي عناوینو کې په لاندې ډول روښانه کوو. إن شاءالله تعالی

د امیر اطاعت د قرآن کریم په رڼا کې: د امیر اطاعت په منصوصي او قطعي نصوصو سره ثابت دی، مخالفت او سرغړونه ترې کول ستره ګناه ده، الله جل جلاله په قرآن

---

[1]- [سنن الترمذي ٤/ ٤٨٨، د حدیث شمېره: ٢١٩٩، حدیث حسن صحیح]

کريم کې د امراوو د اطاعت اړوند داسې فرمایلي دي: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ﴾ [النساء: ۵۹]

ژباړه: اې مؤمنانو! د الله اطاعت وکړئ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت وکړئ او د خپلو امیرانو (اطاعت وکړئ).

د "أولي الأمر" په تأویل کې مختلف تفسیرونه شوي دي، چې امام طبري رحمه الله تعالی په خپل تفسیر کې په لاندې ډول ذکر کړي دي[1]:

۱- یو قول دا دی چې له "أولي الأمر" څخه امراء مراد دي.

۲- دوه یم قول پکې دا دی چې له "أولي الأمر" څخه اهل العلم او اهل الفقه مراد دي.

۳-: دریيم قول دا دی چې له "أولي الأمر" څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحاب مراد دي.

۴-: څلورم قول دا دی چې له "أولي الأمر" څخه مراد ابوبکر صدیق او عمر فاروق رضي الله عنهما مراد دي.

البته ډېر مفسرین رحمهم الله تعالی لومړي قول ته ترجیح ورکوي، چې له "أولي الأمر" څخه مراد امراء دي، امام ابوجعفر رحمه الله تعالی وايي: وأولى الأقوال في ذلك بالصواب، قول من قال: هم الأمراء والولاة[2]. یعنې په دې اقوالو کې حق ته نږدې او غوره قول هغه دی چې وايي: "أولي الأمر" امراء او وُلاة دي.

ستر مفسر امام طبري [ت ۳۰۱هـ] رحمه الله له پورتنيو اقوالو وروسته داسې ليکي:

فإذ كان معلومًا أنه لا طاعة واجبة لأحد غير الله أو رسوله أو إمام عادل، وكان الله قد أمر بقوله:"أطيعوا الله وأطيعوا الرسول وأولي الأمر منكم" بطاعة ذَوِي أمرنا = كان معلومًا أن الذين أمرَ بطاعتهم تعالى ذكره من ذوي أمرنا، هم الأئمة ومن ولَّوْه المسلمين، دون غيرهم من الناس، وإن كان فرضًا القبول من كل من أمر بترك معصية الله ودعا إلى طاعة الله، وأنه لا طاعة تجب لأحد فيما أمر ونهى فيما لم تقم حجة وجوبه، إلا للأئمة الذين ألزم الله عباده طاعتهم فيما أمروا به رعيتهم مما هو مصلحة لعامة الرعيّة، فإن على من أمروه بذلك طاعتهم، وكذلك في كل ما لم يكن لله معصية[3].

---

(۱)- [تفسير الطبري ۸/ ۴۹۷]

(۲)- [تفسير الطبري ۸/ ۵۰۲]

(۳)- المرجع السابق ۸/ ۵۰۳]

ژباړه: کله چې دا معلومه ده چې له الله جل جلاله، رسول الله صلى الله عليه وسلم او عادل امام پرته د چا اطاعت واجب نه دی، او بېشکه الله جل جلاله په دې قول: "أطيعوا الله وأطيعوا الرسول وأولي الأمر منكم" زمونږ د امراوو په اطاعت امر کړی دی، نو معلومه ده چې بېشکه هغه چې الله تعالى يې پر اطاعت امر کړی دی، زمونږ له امراوو څخه، هغه امامان دي او هغه دي چې مسلمانانو ولي الأمر ګرځولي وي، نه له دوی پرته له نورو خلکو، او بېشکه د هر هغه چا چې د الله تعالى د معصيت په ترک امر کوي او د الله تعالى اطاعت ته بلنه ورکوي قبلول فرض دي، او بېشکه په امر او نهي کې د هېچا اطاعت واجب نه دی چې حجت د وجوب يې قائم نه وي، مګر د هغو امامانو چې الله تعالى يې په خپلو بنده ګانو د عام رعيت له مصالحو څخه په هغه څه کې چې رعيت ته پرې امر کوي اطاعت لازم کړی دی، بېشکه په هغه چا چې په دې سره دوی امر ورته کوي اطاعت يې لازم دی، همدارنګه په هر هغه څه کې چې د الله تعالى معصيت نه وي.

د امير اطاعت د نبوي احاديثو په رڼا کې: په نبوي احاديثو کې هم د امير په اطاعت ډېر ټينګار شوی دی، د هغه له فرمانونو سرغړونه او مخالفت ستره ګناه بلل شوې، په اړونده موضوع کې ځينې احاديث په لاندې ډول ذکر کيږي.

لومړی حديث: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ، وَمَنْ يَعْصِنِي فَقَدْ عَصَى اللهَ، وَمَنْ يُطِعِ الْأَمِيرَ فَقَدْ أَطَاعَنِي، وَمَنْ يَعْصِ الْأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي"[1].

ژباړه: له ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چا چې زما اطاعت وکړ، بېشکه د الله جل جلاله اطاعت يې وکړ، او چا چې زما نافرماني وکړه، بېشکه د الله جل جلاله نافرماني يې وکړه، او چا چې د امير اطاعت وکړ، بېشکه زما اطاعت يې وکړ، او چا چې (زما) د امير نافرماني وکړه، بېشکه زما نافرماني يې وکړه.

ملا علي قاري حنفي [ت ۱۰۱۴ هـ] رحمه الله تعالى د دې حديث په شرح کې ليکي: دا جمله "مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ" له دې آيت کريمه څخه اقتباس شوې **﴿مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدۡ أَطَاعَ ٱللَّهَۖ﴾** [النساء: ۸۰]

---

[1]- [صحيح مسلم ۳/ ۱٤٦٦، د حديث شمېره: ۳۲]

او دا جمله: "وَمَنْ يَعْصِنِي فَقَدْ عَصَى اللهَ" له دې آیت کریمه څخه اقتباس شوې: ﴿وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا﴾ [الجن: ٢٣] او دا جمله: "وَمَنْ يُطِعِ الْأَمِيرَ" که څه هم مطلق ذکر دی خو تقدیر یې دی: أميري[1].

امام بخاري رحمه الله تعالى د ابوهريرة رضي الله عنه په روایت، دا حدیث په داسې الفاظو هم روایت کړی دی: **"مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ، وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصَى اللهَ، وَمَنْ أَطَاعَ أَمِيرِي فَقَدْ أَطَاعَنِي، وَمَنْ عَصَى أَمِيرِي فَقَدْ عَصَانِي"**[2].

بدرالدین عیني حنفي [ت ٨٥٥ هـ] رحمه الله تعالى د دې حدیث په شرح کې لیکي: دا په دې دلالت کوي چې د امراوو اطاعت کول واجب دي[3].

بدرالدین عیني حنفي رحمه الله تعالى او ابن حجر عسقلاني شافعي رحمه الله تعالى د دې حدیث د فرمایلو لامل داسې بیان کړی دی چې قریشو امارت نه پېژنده او نه یې د امیر اطاعت ته غاړه ایښوده، بلکې د خپلو قومي مشرانو اطاعت به یې کاوه، نو ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم د امیر د اطاعت امر ورته وکړ، څو یې خلک په کلکه اطاعت وکړي او اختلافات را منځته نه شي[4].

له پورته حديث څخه څرګندېږي چې د الله تعالىٰ په لاره کې يوه ورځ رباط(پيره) کول ډېر ستر فضيلت لري؛ تر دې چې اجر يې د نورو زرو ورځو له عبادت څخه غوره بلل شوی دی. دا د مرابط د مقام او د اسلامي سرحدونو د ساتنې د اهميت څرګند دليل دی.

۳ـ د رباط(پيره داری) د يوې ورځې فضيلت

د اسلامي ټولنې د امنيت او ثبات په ساتنه کې رباط(پيره) ځانګړی اهميت لري؛ ځکه ځکه د اسلامي سرحدونو څارنه او پيرهداري د مسلمانانو د عزت، امنيت او د اسلامي قلمرو د خوندیتوب وسيله ده. شريعت د دې ستر مسؤوليت لپاره مسلمانانو ته نه يوازې د چمتووالي او بيداری لارښوونه کړې، بلکې د دې عمل لپاره يې ځانګړی اجر هم بيان کړی دی. د رباط فضيلت دومره لوړ دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «**عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ خَيْرٌ مِن الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا**»[1].

(له سهل بن سعد الساعدي رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله تعالىٰ په لاره کې يوه ورځ رباط(پيره) کول، له ټولې دنيا او له هغه څه څخه چې په دنيا کې دي، غوره دي).

بعضې علماوو د دې حديث همدا ظاهري مطلب اخيستی (چې يوه ورځ د اسلامي سرحداتو حفاظت کول د دنيا او د دې د ټولو شيانو نه بهتر دی).

بعضې علماوو دا مطلب بيان کړی چې که د يو انسان دا طاقت پيدا شي چې بالفرض د دې ټولې دنيا مالک شي او دا د الله ﷻ په لاره کې مصرف کړي، نو د دينه يوه ورځ د اسلامي سرحداتو حفاظت او پيره کول بهتر دي. دې قول ته قاضي عياض رحمه الله او نورو علماوو ترجيح ورکړې ده[2].

۱ـ أبو عبد الله محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة الجعفي البخاري، صحيح البخاري، المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، ناشر: دار طوق النجاة، الطبعة : الأولى ١٤٢٢هـ، ١٠ ټوک، ١٩ مخ.

۲ـ (لَغَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ رَوْحَةٌ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا)، ومعنى هذا الحديث أن فضل الغدوة والروحة في سبيل الله وثوابهما خير من نعيم الدنيا كلها لو ملكها إنسان وتصور تنعمه بها كلها، لأنه زائل ونعيم الآخرة باق. قال القاضي: وقيل في معناه ومعنى نظائره من تمثيل أمور الآخرة وثوابها بأمور الدنيا أنها خير من الدنيا وما فيها لو ملكها إنسان وملك جميع ما فيها وأنفقه في أمور الآخرة. قال هذا القائل: وليس تمثيل الباقي بالفاني على ظاهر إطلاقه، والله أعلم. أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (المتوفى: ٦٧٦هـ)، المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج، ناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت، الطبعة: الثانية، ١٣٩٢، لومړی ټوک، ٢٦ مخ.

بعضې علماوو د دې حديث نور مطلبونه هم بيان کړي چې د پيره دارۍ پټ اجر د دې دنيا د ظاهري ټولو نعمتونو نه بهتر دی[1].

له پورته حديث څخه څرګندېږي چې د اسلامي سرحدونو ساتنه او رباط په اسلام کې لوړ مقام او ستر اجر لري. د الله تعالیٰ په لاره کې د مسلمانانو د امنيت او د اسلامي سرحدونو د خوندیتوب لپاره يوه ورځ رباط(پيره) کول داسې فضيلت لري چې د دنيا له ټولو نعمتونو څخه غوره بلل شوی دی. دا فضيلت د رباط د ستر اهميت او د مرابطينو د لوړ مقام څرګندونه کوي.

۴ـ د اسلامي سرحدونو د يوې شپې ساتنه د ليلة القدر له شپې څخه غوره ده

د اسلامي سرحدونو ساتنه او د مسلمانانو د امنيت لپاره شپه په بيداری او څارنې تېرول له هغو اعمالو څخه ده چې په شريعت کې ځانګړی فضيلت لري. مرابط د خپل مسؤوليت له امله د مسلمانانو د خوندیتوب لپاره خپله شپه په بيداری تېروي او د دې عمل لپاره ورته ستر اجر بيان شوی دی. حديث مبارک کې راغلي دي: «**عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: أَلاَ أُنَبِّئُكُمْ بِلَيْلَةٍ أَفْضَلَ مِنْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ حَارِسٌ حَرَسَ فِي أَرْضِ خَوْفٍ لَعَلَّهُ أَنْ لاَ يَرْجِعَ إِلَى أَهْلِهِ**»[2].

(له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: ايا زه تاسو ته د ليلة القدر نه بهترينه شپه ونه ښايم؟ کوم پيره کوونکی چې د خطرې په ځای کې پيره وکړي او دا امکان وي چې دا کس واپس کور ته ژوندی رانشي، نو دغه شپه د ليلة القدر نه غوره ده).

ـ ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې ذکر کړي: (..... مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا) والمعنى فضل الغدوة والروحة في سبيل الله خير من نعم الدنيا كلها؛ لأنها زائلة فانية ونعم الآخرة كاملة باقية، ومحتمل أن المراد أن هذا القدر من الثواب خير من الثواب الذي يحصل لمن لو حصلت له الدنيا وأنفقها في سبيل الله. علي بن (سلطان) محمد، أبو الحسن نور الدين الملا الهروي القاري (المتوفى: ١٠١٤هـ)، مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح، ناشر: دار الفكر، بيروت – لبنان، الطبعة: الأولى، ١٤٢٢هـ - ٢٠٠٢م، ٦ ټوک، ٢٤٥٧ مخ.

١ـ احمد بن ابراهيم النحاس الدمشقي الدمياطي، مشارع الاشواق، هذبه و انتقاه: الدكتور صلاح عبدالفتاح الخالد، و ترجمة الى لغة البشتو: سيف الاسلام دريزي، ناشر: دارالكتب الاسلامية، سنة النشر: ١٤٢٨ ل، لومړی ټوک، ٣٦٩ مخ.

٢ـ أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي، السنن الكبرى وفي ذيله الجوهر النقي، مؤلف الجوهر النقي: علاء الدين علي بن عثمان المارديني الشهير بابن التركماني، ناشر: مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة في الهند ببلدة حيدر آباد، الطبعة : الأولى ـ ١٣٤٤ هـ، ٩ ټوک، ١٤٩ مخ.

له ابو هريره رضي الله عنه نه خو تر دې پورې نقل دي چې د پيرې يوه شپه ماته په مسجد حرام او مسجد نبوي کې د ليلة القدر موندلو نه ډېره خوښه ده[1].

له پورته حديث څخه څرګندېږي چې د اسلامي سرحدونو د ساتنې لپاره يوه شپه په بيداري او څارنه تېرول ستر فضيلت لري. دا عمل د مسلمانانو د امنيت او د اسلامي ټولنې د خوندیتوب لپاره د مرابط لوړ مسؤوليت څرګندوي او د شريعت له نظره ځانګړی اجر لري.

۵ـ يوې شپې پيرې کولو سره د جنت مستحق کېدل

ابن عائذ رضي الله عنه فرمايلي دي: رسول الله صلى الله عليه وسلم د يو سړي جنازې سره لاړ (د دې لپاره چې په هغه باندې د جنازې لمونځ وکړي)، کله چې جنازه کېښودل شوه، نو عمر رضي الله عنه، نبي عليه السلام ته وفرمايل: «**لَا تُصَلِّ عَلَيْهِ يَا رَسُولَ الله، فَإِنَّهُ رَجُلٌ فَاجِرٌ**» ای د الله تعالىٰ رسوله! تاسو په ده باندې د جنازې لمونځ مه کوئ؛ ځکه دا يو فاجر سړی و.

دې خبرې اوريدو سره رسول الله ﷺ خلکو ته مخ مبارک ور واړوه او پوښتنه يې وکړه: «**هَلْ رَآهُ أَحَدٌ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلِ الْإِسْلَامِ؟**» ايا په تاسو کې چا دا کس د اسلام په يو کار کولو باندې ليدلی دی؟ يو سړي وويل: «**نَعَمْ، يَا رَسُولَ الله، حَرَسَ لَيْلَةً فِي سَبِيلِ الله**» هو ای د الله تعالىٰ رسوله! دې کس د الله ﷻ په لار (جهاد) کې يوه شپه پيره کړې وه.

د دې خبرې له اوربدو سره رسول الله ﷺ په ده باندې د جنازې لمونځ وکړ، د دفن کولو نه پس د ده په قبر باندې يې په خپل لاس مبارک سره خاورې ور واچولې او دې مړي ته يې خطاب کولو سره وفرمايل: «**أَصْحَابُكَ يَظُنُّونَ أَنَّكَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ، وَأَنَا أَشْهَدُ أَنَّكَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ**»

۱ـ كان أبو هريرة يقول: «رباط ليلة إلى جانب البحر من وراء عورة المسلمين، أحب إلي من أن أوافق ليلة القدر في أحد المسجدين مسجد الكعبة أو مسجد الرسول صلى الله عليه وسلم بالمدينة»..... أبو بكر عبد الرزاق بن همام بن نافع الحميري اليماني الصنعاني (المتوفى: ۲۱۱هـ)، المصنف عبدالرزاق الصنعاني، المحقق: حبيب الرحمن الأعظمي، ناشر: المجلس العلمي- الهند، المكتبة الإسلامي – بيروت، الطبعة: الثانية، ۱٤۰۳، ۵ ټوک، ۲۸۰ مخ.

ستا ملګري دا ګمان کوي چې کېدای شي ته جهنمي يې؛ خو زه دا ګواهي ورکوم چې ته جنتي يې؛ بيا نبي عليه السلام عمر رضي الله عنه ته وفرمايل: «**يَا عُمَرُ إِنَّكَ لَا تَسْأَلُ عَنْ أَعْمَالِ النَّاسِ، وَلَكِنْ تَسْأَلُ عَنِ الْفِطْرَةِ**»[1].

ای عمره! ستا څخه به د خلکو د اعمالو اړوند پوښتنه نشي کولی، بلکې ستا څخه به د فطرت پوښتنه کولی شي.

په پايله کې څرګندېږي چې د الله تعالیٰ په لار کې د يوې شپې پيره کول د داسې ستر اجر سبب ګرځي چې انسان د جنت د مستحق کېدو مقام ته رسوي. دا فضيلت د پيره کوونکي د لوړ اخلاص، زړورتيا او د دين د ساتنې د ارزښت څرګندونه کوي او مسلمان هڅوي چې د اسلامي ټولنې د امنيت او عزت لپاره خپل مسؤوليت په ښه توګه ترسره کړي.

٦ـ په جهاد کې يوه شپه پيره کوونکي ته د زرو ورځو نفلي روژو او زرو شپو د عبادت ثواب ور په برخه کېږي

څوک چې يوه شپه د اسلامي سرحداتو حفاظت او پيره وکړي؛ نو ده ته د زرو ورځو نفلي روژو او زرو شپو د عبادت ثواب ورکول کېږي، لکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «**مَنْ رَابَطَ لَيْلَةً فِي سَبِيلِ اللَّهِ سُبْحَانَهُ كَانَتْ كَأَلْفِ لَيْلَةٍ صِيَامِهَا وَقِيَامِهَا**»[2].

(چا چې د الله ﷻ په لار کې يوه شپه پيره وکړه، نو دا داسې شوه لکه د زرو شپو روژې او عبادت)، يعنې په يوه شپه پيره کولو سره به ده ته د داسې زرو شپو د عبادت ثواب ورکول شي چې زر ورځې يې ورسره روژه هم نيولې وي.

---

[1]ـ عن ابْنَ عَائِذٍ، يَقُولُ: خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَنَازَةِ رَجُلٍ فَلَمَّا وَضْعَ، قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: لَا تُصَلِّ عَلَيْهِ يَا رَسُولَ اللهِ، فَإِنَّهُ رَجُلٌ فَاجِرٌ، فَالْتَفَتَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى النَّاسِ، فَقَالَ: " هَلْ رَآهُ أَحَدٌ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلِ الْإِسْلَامِ؟ " فَقَالَ رَجُلٌ: نَعَمْ، يَا رَسُولَ اللهِ، حَرَسَ لَيْلَةً فِي سَبِيلِ اللهِ، فَصَلَّى عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَحَثَى عَلَيْهِ التُّرَابَ، وَقَالَ: " أَصْحَابُكَ يَظُنُّونَ أَنَّكَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ، وَأَنَا أَشْهَدُ أَنَّكَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ ". وَقَالَ: " يَا عُمَرُ إِنَّكَ لَا تَسْأَلُ عَنْ أَعْمَالِ النَّاسِ، وَلَكِنْ تَسْأَلُ عَنِ الْفِطْرَةِ ". أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى: ٤٥٨هـ)، شعب الإيمان، حققه وراجع نصوصه وخرج أحاديثه: الدكتور عبد العلي عبد الحميد حامد، أشرف على تحقيقه وتخريج أحاديثه: مختار أحمد الندوي، ناشر: مكتبة الرشد للنشر والتوزيع بالرياض بالتعاون مع الدار السلفية ببومباي بالهند، الطبعة: الأولى، ١٤٢٣ هـ - ٢٠٠٣ م، ٦ ټوک، ١٤٦ مخ.

٢ـ سنن الترمذي: ٨ ټوک، ٣٨٦ مخ.

همدا مضمون په بل مبارک حدیث کې په صراحت سره ذکر دی: «**حَرَسُ لَيْلَةٍ فِي سَبِيلِ اللهِ، أَفْضَلُ مِنْ أَلْفِ لَيْلَةٍ يُقَامُ لَيْلُهَا وَيُصَامُ نَهَارُهَا**»[1].

(د الله ﷻ په لار کې یوه شپه د مجاهدینو پیره کول د هغه زرو شپو نه ډېره بهتره ده چې په هغې کې ټوله شپه عبادت وشي او د دې په ورځو کې نفلي روژه ونیول شي).

یعنې که یو کس مسلسل زر ورځې نفلي روژې ونیسي او د دې په شپو کې ټوله شپه عبادت وکړي، نو د دې نه یوه شپه د الله ﷻ په لار کې د مجاهدینو پیره کول ډېر فضیلت لري.

۷ـ د مرابط(پیره کوونکي) د وفات وروسته د اجر دوام او د قبر له عذابِ څخه خوندیتوب

کوم کس چې په جهاد کې د اسلامي سرحداتو حفاظت او پیره کوي، نو داسې کس ته د مرګ نه پس تر قیامته پورې مسلسل ددې اجر لیکل کېږي او داسې کس به د قبر له عذاب څخه هم محفوظ وي، په حدیث مبارک کې فضاله به عبید رضي الله عنه له رسول الله ﷺ څخه نقل کړي دي: «**كُلُّ الْمَيِّتِ يُخْتَمُ عَلَى عَمَلِهِ إِلاَّ الْمُرَابِطَ فَإِنَّهُ يَنْمُو لَهُ عَمَلُهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَيُؤَمَّنُ مِنْ فَتَّانِ الْقَبْرِ**»[2].

(د هر مړي عمل د هغه په مرګ سره پای ته رسېږي، مګر مرابط(پیره کوونکی) داسې نه دی؛ بلکې د هغه عمل د قیامت تر ورځې پورې ورته زیاتېږي او هغه په قبر کې له پوښتونکو ملایکو (د قبر له ازمویونکو) څخه خوندي ساتل کېږي).

ملا علي قاري رحمه الله په «مرقاة شرح مشكوة» کې لیکلي دي چې د اسلامي سرحداتو حفاظت کوونکی مجاهد خپل ځان د داسې کار لپاره وقف کړی وي چې د

۱ـ سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، أبو القاسم الطبراني (المتوفى: ٣٦٠هـ)، المعجم الكبير، المحقق: حمدي بن عبد المجيد السلفي، دار النشر: مكتبة ابن تيمية – القاهرة، الطبعة الثانية ، ١٤٠٤ - ١٩٨٣، لومړی ټوک، ۹۱ مخ.

۲ـ أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني (المتوفى: ٢٧٥هـ)، سنن أبي داود، المحقق: شعَيب الأرنؤوط - محَمَّد كامِل قره بللي، ناشر: دار الرسالة العالمية، الطبعة: الأولى، ١٤٣٠ هـ - ٢٠٠٩ م ۴ ټوک، ۱۵۵ مخ.

دې فائده تر قيامته پورې ټولو مسلمانانو ته رسېږي او هغه كار دا دى چې ده د دښمنانو دفع كولو سره دين ژوندى او سرلوړى ساتلى دى[1].

له دې نه علاوه كه چېرته پيره كوونكى مجاهد د پيرې كولو سره سره څه نور نيك اعمال كوي او دا په دې حالت كې وفات شي، نو ده ته به د پيره دارۍ د اجر سره سره د دې نورو نېكو اعمالو اجر هم تر قيامته پورې ليكل كېږي، لكه چې په حديث مبارك كې راغلي دي: «**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ «مَنْ مَاتَ مُرَابِطًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَجْرَى عَلَيْهِ أَجْرَ عَمَلِهِ الصَّالِحِ الَّذِى كَانَ يَعْمَلُ وَأَجْرَى عَلَيْهِ رِزْقَهُ وَأَمِنَ مِنَ الْفَتَّانِ وَبَعَثَهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ آمِنًا مِنَ الْفَزَعِ**»[2].

(له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چې د الله تعالىٰ په لاره كې مرابط وفات شي، الله تعالىٰ به ورته د هغو نېكو اعمالو اجر جاري وساتي چې هغه به يې په ژوند كې ترسره كول او رزق به يې هم ورته جاري وي. هغه به د قبر له ازمويونكو څخه خوندي وي او الله تعالىٰ به يې د قيامت په ورځ داسې راپاڅوي چې له سترې وېرې او ډار څخه به په امن كې وي).

له پورته حديثونو څخه څرگندېږي چې د الله تعالىٰ په لاره كې د مرابط (پيره‌كوونكي) مقام ځانگړى فضيلت لري؛ ځكه د هغه نېك عمل د وفات وروسته هم جاري پاتې كېږي، رزق يې دوام مومي او د قبر له فتنې او عذاب څخه د خوندیتوب ستر نعمت ورپه برخه كېږي. دا فضيلت د اسلامي سرحدونو د ساتنې او رباط د لوړ مقام څرگندونه كوي.

۸ـ په جهاد كې پيره‌كوونكي ته د ټولو حاجيانو د حجونو او عمرو اجر ورپه برخه كېږي

علامه ابن عساكر رحمه الله په خپل كتاب «تاريخ د مشق» كې دا واقعه رانقل كړې: ابراهيم يماني رحمه الله فرمايي چې زه د يمن نه راغلم او د سفيان ثوري رحمه الله په خدمت كې حاضر شوم هغه ته مې وويل: اى ابو عبدالله! (سفيان ثوري) ما په زړه كې دا اراده كړې چې زه دلته جدې ته راشم، د دې ځاى نه به هر كال پيرې ته ځم، په

---

[1] ـ مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح: ٦ ټوك، ٢٤٧٦ مخ.

٢ـ محمد بن يزيد أبو عبدالله القزويني، سنن ابن ماجه، ناشر: دار الفكر – بيروت، تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي،الطبعة: الأولى، ١٤٣٠ هـ - ٢٠٠٩ م، ٢ ټوك، ٩٢٤ مخ.

هره مياشت كې به يوه عمره كوم، هر كال به حج كوم، خپل كور ته به هم نزدې شم. نو آيا تاسوته زما دا كار خوښ دى او كه شام ته لاړ شم هلته د سرحداتو د حفاظت لپاره پيره وكړم؟ سفيان ثوري رحمه الله ورته وويل: (**يا أخا أهل اليمن! عليك بسواحل الشام**) اي زما يمني وروره! په ځان باندې د شام ساحل ته تلل لازم كړه او هلته د سرحداتو د حفاظت لپاره پيره كوه.

سفيان ثوري رحمه الله درې ځله دا جمله وويله او بيا يې ورته وجه هم بيان كړه: ځكه هر كال يولك، دوه لكه، درې لكه يا زيات خلک بيت الله ته (د حج او عمرې اداء كولو لپاره راځي: (**لك مثل حجهم وعمرهم ومناسكهم**) تا ته به د دې ټولو خلكو د حجونو، عمرو او نورو عباداتو ثواب په برخه كېږي[1].

۹ـ په جهاد كې پيره كوونكي ته د نورو مسلمانانو د لمونځونو او روژو ثواب ور په برخه كېږي

انس بن مالک رضي الله عنه فرمايلي چې له نبي كريم ﷺ څخه د پيرې اړوند پوښتنه وشوه (چې پيره كوونكي ته په دې سره څومره اجر ور په برخه كېږي) نبي كريمﷺ وفرمايل: «**مَنْ رَابَطَ لَيْلَةً حَارِسًا مِنْ وَرَاءِ الْمُسْلِمِينَ كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ مَنْ خَلْفَهُ مِمَّنْ صَامَ وَصَلَّى**»[2].

(چا چې يوه شپه د نورو مسلمانانو پيره وكړه، نو د ده نه وروستو چې څومره خلكو روژې نيولې او لمونځونه يې كړي، د هغوى په اندازه اجر به ده ته هم وركول كېږي).

په پايله كې ويلای شو چې د اسلامي سرحدونو او د مسلمانانو د ساتنې لپاره پيره كول ستر فضيلت لري، پيره كوونكى د خپل اخلاص او قربانى له امله داسې اجر ترلاسه

---

[1] ـ أبو القاسم علي بن الحسن بن هبة الله المعروف بابن عساكر (المتوفى: ٥٧١هـ)، تاريخ دمشق لابن عساكر، المحقق: عمرو بن غرامة العمروي، ناشر: دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع، عام النشر: ١٤١٥ هـ - ١٩٩٥ م، لومړى ټوک، ٢٨٤ مخ.

٢ـ سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، أبو القاسم الطبراني (المتوفى: ٣٦٠هـ)، المعجم الأوسط، المحقق: طارق بن عوض الله بن محمد، عبد المحسن بن إبراهيم الحسيني، ناشر: دار الحرمين – القاهرة،الطبعة الأولى ، ١٤٠٥ – ١٩٨٥، ٨ ټوک، ٩٠ مخ.

كوي چې د نورو مسلمانانو د عبادتونو له ثواب څخه هم ورته برخه رسېږي؛ نو ځكه د اسلام له نظره د مسلمانانو ساتنه او د هغوی د امنيت لپاره پيره كول له ډېرو غوره اعمالو څخه ګڼل كېږي.

۱۰ـ پيره داری ته غاړه ايښودو په وجه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم زېرى

عبدالله بن مبارک رحمه الله په خپل كتاب كې دا واقعه رانقل كړې چې كله رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلو صحابه كرامو رضي الله عنهم سره د احد غزا ته د جهاد لپاره ووت، نو په يو ځای كې يې وفرمايل: نن شپه به په دې دره باندې څوک پيره وكړي؟

د انصارو يو كس راپاڅېد چې نوم يې ذكوان بن عبد قيس رضي الله عنه و او كنيه يې ابوالسبع وه، ده وويل: زه به پيره وكړم. نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورنه پوښتنه وكړه: «**مَنْ أَنْتَ**» ته څوک يې؟ ده ورته وويل: «**ابْنُ عَبْدِ قَيْسٍ**» زه د عبد قيس زوی يم، نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: «**اجْلِسْ**» ته كېنه.

پيغمبر صلى الله عليه وسلم بيا ځلې هماغه اعلان وكړو (چې نن شپه به څوک پيره وكړي؟) ذكوان رضي الله عنه بيا راپورته شو او وې ويل: چې زه به پيره وكړم.

نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورڅخه پوښتنه وكړه: «**مَنْ أَنْتَ**» ته څوک يې؟ ده ورته وويل: «**أَنَا أَبُو السَّبْعِ**» زه ابو السبع يم. دا ځل هم ده خپل نوم وانه خيست بلكې خپله كنيه يې ذكر كړه.

پيغمبر صلى الله عليه وسلم ورته وويل: تاسې په فلاني فلاني ځای باندې د پيرې لپاره ودريږئ.

ذكوان رضي الله عنه نبي عليه السلام ته وفرمايل: ای د الله تعالىٰ رسوله! په هر ځل باندې تاسو ته همدا ما جواب در كړ، خپل نوم مې ځكه په هر ځل وانه خيست چې كېدای شي دلته د مشركينو څوک جاسوس وي چې هغه پوه نه شي.

د دې خبرې په اوربدو سره رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «**مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ يَطَأُ خُضْرَةَ الْجَنَّةِ بِقَدَمَيْهِ غَدًا، فَلْيَنْظُرْ إِلَى هَذَا**»

د چا چې دا خوښه وي چې په دنيا كې داسې كس وګوري چې هغه به صبا په خپلو قدمونو سره د جنت په باغيچو كې ګرځي، نو هغه دې ذكوان رضي الله عنه وګوري،د دې نه پس ذكوان رضي الله عنه خپل كور ته لاړ او د خپلو بيبيانو نه يې رخصت راواخيست راروان شو، خپلو بيبيانو د لمن څخه ونيو او ورته وې ويل: «**يَا أَبَا السَّبْعِ، تَدَعُنَا وَتَذْهَبُ**»

ای ابو السبع! ته مونږ پرېږدې او ته ځې؟ ده ورنه خپله لمن راخلاصه كړه، راروان شو، كله چې د خپلو مېرمنو څخه لږ وړاندې راغی، نو هغوی ته يې مخ ور واړوه او ورته وې ويل: «**مَوْعِدُكُنَّ يَوْمُ الْقِيَامَةِ**» له تاسو سره به ملاقات د قيامت په ورځ كوم، دا يې وويل: روان شو، د پيرې ځای ته لاړ، هلته بيا شهيد شو[1].

۱۱ـ په هغو سترګو د جهنم اور حرام دی چې د پيرې له امله ويښې پاتې شي

د الله تعالىٰ په لار كې د مسلمانانو د ساتنې لپاره پيره كول د هوښيارۍ، بيدارۍ او ستر مسؤوليت غوښتنه كوي. هغه څوک چې د شپې خپلې سترګې د الله تعالىٰ د رضا او د مسلمانانو د امنيت لپاره ويښې ساتي، د دې قربانۍ په بدل كې ځانګړی فضيلت لري، رسول الله فرمايلي دي: «**عَيْنَانِ لاَ تَمسُّهُمَا النَّارُ: عَيْنٌ بَكَتْ مِنْ خَشْيَةِ الله، وَعَيْنٌ بَاتَتْ تَحْرُسُ في سَبيلِ الله**»[2].

(دوه سترګې داسې دي چې هېڅ كله به د جهنم اور مسه نكړي: يوه هغه سترګه ده چې د الله ﷻ له وېرې يې ژړلې وي او دويمه هغه سترګه ده چې د الله ﷻ په لار(جهاد) كې يې د پيرې په وجه شپه ويښه تېره كړې وي).

---

[1]ـ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:» مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ يَطَأُ خُضْرَةَ الْجَنَّةِ بِقَدَمَيْهِ غَدًا، فَلْيَنْظُرْ إِلَى هَذَا: فَانْطَلَقَ ذَكْوَانُ. أبو عبد الرحمن عبد الله بن المبارك بن واضح الحنظلي، التركي ثم المرْوزي (المتوفى: ۱۸۱هـ)، الجهاد لابن المبارك، حققه وقدم له وعلق عليه: د. نزيه حماد، ناشر: الدار التونسية – تونس، تاريخ النشر: ۱۹۷۲م، لومړی ټوک، ۱۲۵ مخ.

۲ـ سنن الترمذي: ٦ ټوک، ۱۹۰ مخ.

په یو بل ورته روایت کې ذکر دي: «**حُرِّمَتْ عَيْنٌ عَلَى النَّارِ سَهِرَتْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ**»[1].

(هغه سترګه د جهنم په اور حرامه ګرځول شوې ده چې د الله ﷻ په لاره کې یې پیره داري کړې وي).

له دې حدیثونو څخه څرګندیږي چې د الله تعالیٰ په لار کې د بیداري او څارنې هره شېبه ځانګړی ارزښت لري. هغه سترګې چې د دین او مسلمانانو د ساتنې په موخه له خوبه تېریږي، د الله تعالیٰ له لوري د ستر اجر او ځانګړي عزت وړ ګرځي.

۱۲ـ په پیره کې وفات کېدونکی شهید دی

په اسلامي شریعت کې د مسلمانانو او اسلامي سیمو د ساتنې لپاره پیره کول ستر مسؤولیت او د لوړې قربانۍ عمل دی. هغه څوک چې د الله تعالیٰ د رضا لپاره په دې عمل کې خپل ژوند تېروي او په همدې حالت کې وفات شي، د شهادت له ځانګړي فضیلت څخه برخمن ګڼل کېږي، رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «**مَنْ مَاتَ مُرَابِطًا مَاتَ شَهِيدًا وَوُقِيَ فَتَّانَ الْقَبْرِ، وَغُدِيَ وَرِيحَ بِرِزْقِهِ مِنَ الْجَنَّةِ، وَجَرَى عَلَيْهِ عَمَلُهُ**»[2].

(څوک چې د اسلامي سرحداتو په حفاظت کې وفات شي نو دا شهید وفات شو، دا به د قبر د فتنې(امتحان او عذاب) نه محفوظ وي، سهار او مابنام به ده ته د جنت نه رزق ورکولی شي او د ده د عمل اجر به ده ته ترقیامته پورې جاري وي).

پایلې

۱ـ رباط د اسلامي سرحدونو د ساتنې، څارنې او د اړتیا پر مهال د دفاع لپاره د چمتووالي او دوامدارې بیداري نوم دی او مرابط هغه څوک دی چې د دې مسؤولیت د ترسره کولو لپاره ځان چمتو کوي.

۱ـ أبو عبد الرحمن أحمد بن شعيب بن علي الخراساني، النسائي (المتوفى: ۳۰۳هـ)، المجتبى من السنن = السنن الصغرى للنسائي، تحقيق: عبد الفتاح أبو غدة، ناشر: مكتب المطبوعات الإسلامية – حلب، الطبعة: الثانية، ١٤٠٦ – ١٩٨٦، ٦ ټوک، ۱۵ مخ.

۲ـ مصنف عبدالرزاق الصنعاني: ۵ ټوک، ۲۸۲ مخ.

۲ـ د اسلامي سرحدونو ساتنه او پیره په شریعت کې لوړ مقام لري او د الله تعالی په لار کې د یوې ورځې رباط کول ستر فضیلت او لوی اجر لري.

۳ـ د مرابط لپاره د وفات وروسته هم د اجر د دوام فضیلت ثابت شوی او هغه د قبر له عذاب او فتنې څخه د خوندیتوب مستحق ګرځي.

۴ـ د مسلمانانو د ساتنې په موخه د پیرې پر مهال بیداري او خپلې سترګې ویښې ساتل ځانګړی فضیلت لري او د نبوي احادیثو له مخې د جهنم له اور څخه د خوندیتوب سبب ګرځي.

۵ـ څوک چې د اسلامي سرحدونو د ساتنې او رباط په حالت کې وفات شي، د شهادت مقام ترلاسه کوي او د هغه د رباط اجر او ثواب ورته دوام مومي.

وړاندیزونه

۱ـ د ارشاد، حج او اوقافو وزارت ته وړاندیز کېږي چې د خپلو خطیبانو او امامانو په ذریعه مسلمانان د اسلامي سرحدونو د ساتنې او پیرې په شرعي اهمیت او فضیلت خبر کړي او هغوی دې بیا نورو ته هم ورسوي.

۲ـ د دفاع وزارت ته وړاندیز کېږي چې د سرحدونو ساتونکي مجاهدین دې د خپلې دندې د اهمیت په پام کې نیولو سره په بیداری، اخلاص، صبر او مسؤولیت‌پذیری ته متوجه کړي.

۳ـ دفاع او داخله وزاتونه دې د اسلامي نظام د ساتنې لپاره لازم چمتووالی، روزنه او مناسب امکانات برابر کړي.

۴ـ امر بالمعروف، نهې عن المنکر او د شکایتونو اوربدلو وزارت ته وړاندیز کېږي چې علماء د قرآن کریم او نبوي سنتو په رڼا کې د رباط او د مسلمانانو د ساتنې فضائل خلکو ته په علمي او مستند ډول بیان کړي.

مأخذونه

١ـ القرآن الكريم.

٢ـ ابن عساكر، أبو القاسم علي بن الحسن بن هبة الله المعروف بابن عساكر (المتوفى: ٥٧١هـ)، تاريخ دمشق لابن عساكر، المحقق: عمرو بن غرامة العمروي، ناشر: دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع، عام النشر: ١٤١٥ هـ - ١٩٩٥ م.

٣ـ ابن منظور، محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين الأنصاري الرويفعى الإفريقى ، لسان العرب، ناشر: دار صادر – بيروت، الطبعة: الثالثة - ١٤١٤ هـ.

٤ـ ابن فارس، أبي الحسين أحمد بن فارِس بن زكَرِيّا، معجم مقاييس الغة، المحقق: عبد السَّلام محمد هَارُون، ناشر: اتحاد الكتاب العرب، الطبعة : ١٤٢٣ هـ = ٢٠٠٢م.

٥ـ البخاري، أبو عبد الله محمد بن إسماعيل ، صحيح البخاري، المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، ناشر: دار طوق النجاة، الطبعة : الأولى ١٤٢٢هـ.

٦ـ البيضاوي، ناصر الدين أبو سعيد عبد الله بن عمر بن محمد الشيرازي (المتوفى: ٦٨٥هـ)، أنوار التنزيل وأسرار التأويل ـ تفسير البيضاوي، المحقق: محمد عبد الرحمن المرعشلي، ناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت، الطبعة: الأولى - ١٤١٨ هـ.

٧ـ البيهقي، أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي ، السنن الكبرى وفي ذيله الجوهر النقي، مؤلف الجوهر النقي: علاء الدين علي بن عثمان المارديني الشهير بابن التركماني، ناشر: مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة في الهند ببلدة حيدر آباد، الطبعة : الأولى ـ ١٣٤٤ هـ.

٨ـ الخراساني، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي ، أبو بكر البيهقي ، شعب الإيمان، حققه: الدكتور عبد العلي عبد الحميد حامد، أشرف على تحقيقه وتخريج أحاديثه: مختار أحمد الندوي، ناشر: مكتبة الرشد للنشر والتوزيع بالرياض بالتعاون مع الدار السلفية ببومباي بالهند، الطبعة: الأولى، ١٤٢٣ هـ - ٢٠٠٣ م.

٩ـ السِّجِسْتاني، أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي (المتوفى: ٢٧٥هـ)، سنن أبي داود، المحقق: شعَيب الأرنؤوط - محَمَّد كامِل قره بللي، ناشر: دار الرسالة العالمية، الطبعة: الأولى، ١٤٣٠ هـ - ٢٠٠٩ م.

١٠ـ السرخسي، محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة ، شرح السير الكبير، الناشر: الشركة الشرقية للإعلانات، الطبعة: بدون طبعة، تاريخ النشر: ١٩٧١م.

١١ـ الصنعاني، أبو بكر عبد الرزاق بن همام بن نافع الحميري اليماني (المتوفى: ٢١١هـ)، المصنف عبدالرزاق الصنعاني، المحقق: حبيب الرحمن الأعظمي، ناشر: المجلس العلمي- الهند، الطبعة: الثانية، ١٤٠٣.

١٢ـ الطبراني، سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، أبو القاسم (المتوفى: ٣٦٠هـ)، المعجم الكبير، المحقق: حمدي بن عبد المجيد السلفي، دار النشر: مكتبة ابن تيمية – القاهرة، الطبعة الثانية ، ١٤٠٤ - ١٩٨٣.

١٣ـ الطبراني، سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، المعجم الأوسط، المحقق: طارق بن عوض الله بن محمد، عبد المحسن بن إبراهيم الحسيني، ناشر: دار الحرمين – القاهرة، الطبعة الأولى، ١٤٠٥ – ١٩٨٥.

١٤ـ عثماني، محمد شفيع رحمه الله. تفسير معارف القرآن، ناشر: فيصل كتب خانه محله جنگي پشاور، بدون الطبع.

١٥ـ الترمذي، محمد بن عيسى أبو عيسى الترمذي السلمي، الجامع الصحيح سنن ، ناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت، تحقيق: أحمد محمد شاكر وآخرون سنن الترمذي، الطبعة: الثانية، ١٣٩٥ هـ - ١٩٧٥ م.

١٦ـ الدمياطي، احمد بن ابراهيم النحاس الدمشقي، مشارع الاشواق، هذبه و انتقاه: الدكتور صلاح عبدالفتاح الخالد، و ترجمة الى لغة البشتو: سيف الاسلام دريزي، ناشر: دارالكتب الاسلامية، سنة النشر: ١٤٢٨ ل.

١٧ـ القرطبي، أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر الأنصاري الخزرجي شمس الدين ، الجامع لأحكام القرآن = تفسير القرطبي، تحقيق: أحمد البردوني وإبراهيم أطفيش، ناشر: دار الكتب المصرية – القاهرة، الطبعة: الثانية، ١٣٨٤هـ - ١٩٦٤ م.

١٨ـ القزويني، محمد بن يزيد أبو عبدالله ، سنن ابن ماجه، ناشر: دار الفكر – بيروت، تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي، الطبعة: الأولى، ١٤٣٠ هـ - ٢٠٠٩ م.

١٩ـ المرْوزي، أبو عبد الرحمن عبد الله بن المبارك بن واضح الحنظلي، التركي ثم (المتوفى: ١٨١هـ)، الجهاد لابن المبارك، حققه وقدم له وعلق عليه: د. نزيه حماد، ناشر: الدار التونسية – تونس، تاريخ النشر: ١٩٧٢م.

٢٠ـ النسائي، أبو عبد الرحمن أحمد بن شعيب بن علي الخراساني، (المتوفى: ٣٠٣هـ)، المجتبى من السنن = السنن الصغرى للنسائي، تحقيق: عبد الفتاح أبو غدة، ناشر: مكتب المطبوعات الإسلامية – حلب، الطبعة: الثانية، ١٤٠٦ – ١٩٨٦.

٢١ـ النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف ، المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج، ناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت، الطبعة: الثانية، ١٣٩٢.

٢٢ـ الهروي، علي بن (سلطان) محمد، أبو الحسن نور الدين الملا القاري (المتوفى: ١٠١٤هـ)، مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح، ناشر: دار الفكر، بيروت – لبنان، الطبعة: الأولى، ١٤٢٢هـ - ٢٠٠٢م

مفتي محمد «بشار»

په افغانستان کې د اقتصادي ودې عوامل او خنډونه

ملخص البحث

الحمدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِينْ، والصلاةُ والسَّلَامُ عَلَى سَيِّدِ الْمُرْسَلِينْ، وعَلَى آلِه وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِينْ. أمابعد!

يُعَدُّ النموُّ الاقتصاديُّ من أهمِّ مفاهيم الإقتصاد المعاصر، ومن المحاور الرئيسية في الدراسات والأبحاث. كما يُعَدُّ مؤشراً أساسياً لتحقيق رفاهية الدول، وتوفير فرص العمل، وزيادة الدخل، وتعزيز الاستقرار، ودفع عجلة التنمية، وتقوية القوة الوطنية. إنَّ بحثَ عواملِ النموِّ الإقتصاديِّ والمعوِّقاتِ التي تحولُ دونَهُ يكتسبُ أهميةً كبيرةً؛ لأنَّ مثلَ هذه البحوثِ تُبيِّنُ للدولِ السُّبُلَ والوسائلَ الكفيلةَ بتحقيقِ الرَّفاهِ الإقتصاديِّ والإكتفاءِ الذاتيِّ. وتدورُ هذه الدراسةُ، التي أُجريت وفقَ المنهجَين التحليليِّ والوصفيِّ، حولَ أهميةِ النموِّ الإقتصاديِّ، وعواملِه. وتهدفُ الدراسةُ إلى تحديدِ عواملِ النموِّ الإقتصاديِّ والإستفادةِ منها في تحقيقِ التنميةِ والتطوّرِ الإقتصاديِّ للبلاد.

د بحث لنډيز: اقتصادي وده د معاصر اقتصاد له مهمو مفاهيمو او په ټوله کې د څېړنيزو بحثونو له محوري موضوعاتو څخه ګڼل کيږي. د هر هيواد د هوساينې، کارموندنې، د عوايدو د لوړېدا، ثبات، پراختيا او د ملي ځواک د پياوړتيا لپاره اساسي شاخص ګڼل کيږي،د اقتصادي ودې عوامل او د هغو په وړاندې خنډونو څخه بحث کول خورا ډېر اهميت لري، ځکه دا ډول بحثونه دولتونو ته د اقتصادي رفاه او پر ځان بسيايني لارې چارې ښيي.

دا څېړنه په تحليلي او توصيفي بڼه ترسره شوې، چې په افغانستان کې د اقتصادي ودې پر اهميت او عواملو راڅرخي. د څېړنې موخې دا دي چې د اقتصادي ودې عوامل په ګوته شي او د هيواد په اقتصادي پراختيا کې ترې ګټه پورته شي.

کليدي کلمې: اقتصادي وده، عوامل، خنډونه

سريزه

دوامداره اقتصادي وده د يو واحد عامل محصول نه ده، بلکې د بشري پانګې، نوښت، ټکنالوژۍ، اغېزمنو ادارو، پانګونې، سياسي ثبات او پرانيستی اقتصاد د متقابل تعامل پايله ده.

که له نن څخه يوه پېړۍ وړاندې اقتصادي منابعو باندې څېړنه وشې؛ نو عوامل يې بيخي محدود وو او ځينې خو يې داسې هم وو چې د اوسنۍ نړۍ په اقتصادي سيالیو کې حساب نه پرې کېږي. ځکه نن خو د اقتصادي ودې لپاره داسې نوي عوامل منکشف شوي چې تمدن ته يې پراختيا ورکړې او په بشري نړۍ يې اغېز څرګند دی.

د اقتصادي ودې پر عواملو باندې علمي او څېړنيز بحث ته ځکه اړتيا ده چې دولتونو ته د اقتصاد په چټک بدلېدونکي بازار کې مسير ورکوي او په دې يې پوهوي چې څنګه له نورو هيوادونو سره سيالي وکړي.

د موضوع اهميت

اقتصادي وده د نړۍ ټولو دولتونو ته لومړنۍ او اساسي موضوع ده، خو په ځانګړې توګه د دريمې نړۍ او يا وروسته پاتې هيوادونو لپاره ځکه بايد لومړيتوب ولري چې ټولې ګټې او مصلحتونه يې په اقتصادي ودې پورې تړلي دي. له اقتصادي ثبات پرته د هيواد خپلواکي، سياسي استقلال، پرمختګ، ثبات او استحکام ناشونی ګڼل کېږي او د اقتصاد ثبات د دولت له مهمو ارکانو يو رکن دی چې له دې پرته يې پياوړتيا او بقاء نه کېږي.

د څېړنې منهج

دا څېړنه په توصيفي او تحليلي بڼه شوې چې د بېلابېلو کتابتوني منابعو څخه په ګټه اخيستنې د اقتصادي ودې عوامل او د اقتصادي پراختيا په وړاندې خنډونه په ګوته کوي.

د څېړنې اهداف

۱ـ د هیواد د اقتصادي پیاوړتیا لپاره طرحو، پالیسیو او پلانونو له غني کولو سره مرسته کول.

۲ـ د اقتصادي انکشاف په وړاندې شته خنډونه په نښه کول او د حل لارې چارې یې لټول.

۳ـ د اقتصادي ودې عوامل په ګوته کول او له هغو څخه د ګټې اخیستلو تګلارې څېړل.

۴ـ له اقتصادي انزوا څخه وتلو، ترانزیټ او سوداګري ته پراختیا ورکولو تګلارې لټول او د هیواد د اقتصادي ثبات لپاره د اقتصادي ودې عوامل لټول.

د څېړنې اصلي او فرعي پوښتنې

اصلي پوښتنه: د اقتصادي ودې عوامل او په وړاندې یې شته خنډونه څه دي؟

فرعي پوښتنې:

أ: د اقتصادي ودې عوامل کوم دي؟

باء: د اقتصادي پراختیا په وړاندې شته خنډونه کوم دي؟

جـ: د اقتصادي پراختیا په وړاندې شته خنډونو د له منځه وړلو او د اقتصادي ودې له عواملو څخه د ګټې اخیستلو لارې چارې څه دي؟

د اقتصادي ودې عوامل

اسلام اعتدال ته داسې ارزښت ورکړی چې هره پربکړه، حکم، فکر، نظریه او آند یې پر اعتدال ولاړ دی. نه یې دنیا داسې ارزښناکه بللې چې د آخرت په پرتله لومړیتوب ورکړل شي او نه یې هم آخرت ته داسې بلنه ورکړې چې انسان له دنیوي مسؤلیتونو څخه غافل کړي. بلکې د دنیا او آخرت ترمنځ یې د اعتدال لار غوره کړې.

محمد شوقي لیکلي: اسلام د ټولو ادیانو د پایلې په توګه د ژوند بشپړ منهج راوړ چې روحي، عقیدوي او معنوي ارزښتونو په کچه د انسان مادي او معاشي اړتیاوو ته هم پاملرنه لري او دواړه له یو بل څخه اغېز لري؛ ځکه له هر یو پرته بل نه شي پاتېدلی[1].

الله تعالی فرمایي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ﴾ [البقرة: ٢٦٧]

(1) محمد شوقی الفنجری ـ الإسلام والتوازن الاقتصادي بين الأفراد والدول: ٣٦، چاپ: وزارة الأوقاف

ژباړه: ای مؤمنانو! له هغو پاکو مالونو لګښت وکړئ چې تاسو ګټلي او له هغو چې مور له ځمکې درته را ایستلي دي.

په دې آیت کې یې د ځمکې معادن، زراعت او ټولې زېرمې یادې کړي، بیا یې د انسان د کسب یادونه کړې چې د حلالې روزي ترلاسه کول یې له اساسي دندو څخه دي؛ ځکه خو د والدینو، مېرمنې او بچیانو نفقه پرې واجب ده. بیا یې له ترلاسه کړې شتمنۍ څخه د بې وزلو او مستحقینو د حق ورکولو یادونه هم کړې ده.

د آیت دا درې سپارښتنې د اقتصادي ودې تګلاره روښانه کوي او د اسلام له انده د اقتصاد ارزښت را په ګوته کوي.

د اقتصادي ودې لپاره په وګړو کې د خپل مسؤلیت احساس اړین دی. هغوی چې کسب نه کوي، ژوند یې په غفلت تېریږي، لاس یې تل تیټ او بل ته غځولی وي؛ هیڅکله له داسې خلکو غوره نه شي کېدلی، چې د خولو په تویولو حلاله روزي ترلاسه کوي، د مسؤلیت احساس ولري، لاس یې لوړ وي او د بې وزلو لاس نیوی کوي. ځکه عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وایي: یوځل رسول الله ﷺ په ممبر وینا کوله چې د صدقې، ګدایي او له خلکو د غوښتنې او سوال کولو څخه ډډې کولو یادونه یې وکړه او بیا یې وفرمایل: " **اليَدُ العُلْيَا خَيْرٌ مِنَ اليَدِ السُّفْلَى، فَاليَدُ العُلْيَا: هِيَ المُنْفِقَةُ، وَالسُّفْلَى: هِيَ السَّائِلَةُ** "[1].

ژباړه: برنی لاس له ښکتني غوره دی، برنی لاس لګښت کوونکی او ښکتنی ګدایي کوونکی دی.

پورتني آیت د ځمکې د معادنو او زېرمو ارزښت هم روښانه کړ او دا یې پر بندګانو د الله تعالی ځانګړې لورینه وبلله، فرمایي: **وَمِمَّآ اَخۡرَجۡنَا لَكُمۡ مِّنَ الۡاَرۡضِ**.

علامه آلوسي رحمه الله لیکلي: **يعني من الحب والتمر وكل شيء عليه زكاة**[2].

یانې دانې، خورما او هر شی چې زکات پرې کیږي.

الله تعالی په ځمکه کې د انسانانو د اقتصاد او معیشت لپاره داسې زېرمې ایښې چې یوازې په زراعت پورې اړه نه لري. بلکې نفت، ګاز، تېل، طلا، اوسپنه، قیمتي غمي،

---

(1) صحيح البخاري: باب لا صدقة إلا عن ظهر غنى (١٤٢٩)، صحيح مسلم: باب بيان أن اليد العليا خير من اليد السفلى، وأن اليد العليا هي المنفقة وأن السفلى هي الآخذة (١٠٣٣)، سنن أبي داود: باب في الاستعفاف (١٦٤٨).

(2) شهاب الدين محمود بن عبد الله الحسيني الألوسي، روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني: ٢/ ٣٨، چاپ: دارالكتب العلمية ـ بيروت

ارزښتناکې ډبرې، یورانیم او ټول هغه ګازي، مائع او جامد توکي چې په معاصر اقتصادي بازار کې ارزښت لري.

انسانانو په زده کړه او ټکنالوژي د ژوند اړتیاوې بدلې کړې. داسې ډبرو وسائلو ته یې ارزښت ورکړ چې پخوا یې ارزښت نه درلود او له داسې وسائلو یې د ژوند په هوساینه، رفاه، پرمختګ، پراختیا او ځواک جوړولو کې ګټه واخیستله چې پخوانیو یې تصور هم نه کاوۀ. دا د اقتصادي ودې عوامل دي چې په اقتصادي ثبات او پراختیا کې ډېر رول لوبوي.

په افغانستان کې د اقتصادي ودې عوامل ډېر دي، خو دلته یې پر هغو عواملو بحث کوو چې پر هغو د پانګونې لپاره بستر چمتو دی او د هیواد په اقتصادي پرمختګ رول لوبولی شي.

۱ـ بشري پانګه (Human Capital)

بشري پانګه د خلکو زده کړه، مهارتونه، روغتیا او مسلکي وړتیاوې رانغاړي. معاصرې ځېرنې ښیي چې کوم هیوادونه پر تعلیم، مسلکي روزنې او روغتیا پانګونه کوي، د اوږدمهالې اقتصادي ودې لوړه کچه تجربه کوي. لوړه بشري پانګه د کارګر تولید زیاتوي، نوښت پیاوړی کوي او د نوې ټکنالوژۍ د منلو وړتیا لوړوي.

هغه هیوادونه په تدریج سره پراخه اقتصادي وده تجربه کوي چې په مسلکي ښوونه او روزنه یې ډېره پانګه لګېږي او دولتونه یې د نوي عصر له اړتیاوو او غوښتنو سره سم د نوي کهول مسلکي روزنې ته ډېره پاملرنه لري، ځکه خو بشري ځواک د ټولو پرمختګونو او هر ډول ثبات لومړنی بنسټ تشکیلوي.

که د یو هیواد ښوونیز نصابونه د نوي عصر پوښتنې نه ځوابوي، مفاهیم او اهداف یې له اوسنیو غوښتنو سره پخلا نه وي، نوی نسل یې په اقتصادي ثبات، پراختیا، ودې او پرمختګ کې ونډه نه شي اخیستلی او د سیالۍ مورال هم له لاسه ورکوي.

د دې په عکس کوم دولتونه چې ښوونیزو نصابونو ته ځانګړې پاملرنه لري، د وخت له غوښتنو سره یې برابروي او هر مهال نوښت پکې کوي؛ نو یوازې همدوی د اقتصادي ثبات، سیاسي خپلواکۍ او د تمدن د رهبري کولو جوګه کېږي.

بشري ځواک د هیوادونو او دولتونو د ملا تیر ګڼل کېږي، همدا یې اساسي پانګه ده چې ټولې اړتیاوې پوره کولی شي او د دولتونو په ثبات کې اغېزناک رول لري.

ماهر او نوښتګر بشري ځواک د ملي ځواک لپاره زمینې برابروي او په دې کې شک نشته چې د یوۀ دولت تر ټولو مهمه شتمني بشري ځواک او انساني منابع دي[1].

افغانستان د بشري ځواک له پلوه بډایه دی، ډېر ځوانان یې مسلکي دي چې د هیواد په بیا رغونه او پرمختګ کې له بېلابېلو اړخونو پراخه ونډه اخیستلی شي؛ خو دا ښه مدیریت ته اړتیا لري چې په کار پوهان پر دندو وګمارل شي او له هر چا څخه د خپل تخصص په برخه کې ګټه پورته شي.

ځوانان د هیوادونو په بیارغونه کې د ملا د تیر حیثیت لري، هغوی خورا ستونزمن کارونه ترسره کولی شي او درانه بارونه پر اوږو وړلی شي. خو که ځوان قشر ته پاملرنه ونه شي نو بشري ځواک مو له هیواده وتلو ته اړ کیږي.

۲ـ فزیکي پانګه (Physical Capital)

فزیکي پانګه د یو هیواد فابریکې، زېربناوې، ماشینونه، سړکونه، مخابرات، برېښنا او د تولیدي وسائلو زیاتوالی دی چې د تولید ظرفیت لوړوي، د وارداتو په پرتله د صادراتو کچه ډېروي او د دولت د بودیجې په ډېروالي کې رول لوبوي.

د صنعت او سوداګرۍ په وده کې فزیکي پانګه خپل بنسټیز رول لوبوي او له دې سره د صادراتو کچه لوړیږي چې د دولت پایې تینګوي او هیواد ته ثبات وربښي. خو یواځې فزیکي پانګه د دوامدارې ودې لپاره بسنه نه کوي، بلکې د اقتصاد په نورو عواملو تقویه کېدلی شي او د هغو په شتون کې دوامداره وده ممکنه ده.

په افغانستان کې د ملي پراختیا شرکت ځینې پروژې تر کار لاندې لري او هڅه کوي چې فزیکي پانګه غني کړي، خو د خصوصي سکتور له پیاوړتیا او ملاتړ پرته د هیواد فزیکي پانګه نه شي غني کېدلی، ځکه ټولې چارې هیڅکله دولتي ادارې نه شي ترسره کولی او د پرمختللو هیوادونو په پرځتګ کې د خصوصي سکتور رول ډېر دی او دولت یې یواځې مدیریت کړی دی.

له نړیوالې جګړې وروسته د جاپان په بیا ځلې راپورته کېدو کې چې د ملي احساس روحیې جوړولو او پیاوړې کولو ته کار وشو؛ نو د خصوصي سکتور ونډه پکې بارزه وه.

---

(1) نور الله ابراهیمي ـ اقتصادي جغرافیه: ۵، چاپ: د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره

۳ـ جغرافیوي موقعیت

افغانستان د منځنۍ او جنوبي اسیا د څلور لاري حیثیت لري، د دوی ترمنځ ترانزیټ له افغانستان پرته هیڅ شونی نه دی؛ ځکه نو د اسیاسي هیوادونو لپاره د افغانستان امنیت او اقتصادي ثبات ارزښت لري.

په افغانستان کې د امریکا د اشغال له پای او د اسلامي امارت له تاریخي بریا وروسته چې امنیت او ثبات تضمین شوی، د سیمې هیوادونو ته یې د دې فرصت برابر کړی چې د افغانستان له لارې د ترانزیټ، انرژۍ انتقال او نښلوونکې لارې پر مټ د ټولې سیمې د اقتصادي راپورته کولو په برخه کې رول ولوبوي[۱].

په اقتصادي او صنعتي لحاظ د اسیایي هیوادونو راپورته کېدل او د افغانستان منطقه محور اقتصادي لیدلوری د دې زمینه برابروي چې له نوري فرصت څخه افغانستان او شاوخوا هیوادونه په یوه ګټه ـ ګټه حالت کې ګټمن شي. لکه څنګه چې افغانستان کې د پردیو ځواکونو نامشروع حضور او د جګړې او بې ثباتۍ دوام د اسیا پېر کې د افغانستان رول تت کړی و، په ورته ډول د اشغال له پای او مسوول نظام له رامنځ ته کېدو وروسته له دې فرصت د استفادې سره زمینه برابره شوې ده.

د افغانستان جغرافیوي موقعیت په اقتصادي ودې او پراختیا کې ډېر رول لري، سره له دې چې سمندري لار نه لري خو د افغانستان له جغرافیې پرته د منځنۍ او جنوبي اسیا ترمنځ سوداګري او ترانزیټ نړۍ ناشونی دی.

۴ـ کرهنه او مالداري

افغانستان یو کرنیز هیواد دی، که چېرې د افغانستان تېر او اوسني اقتصادي وضعیت ته کتنه وشي، لیدل کیږي چې همدغه سکتور زمور د هیواد د اقتصاد بنسټ جوړوي، د افغانستان ۸۵ سلنه وګړي په کرنیزو چارو بوخت دي او ۸۳ سلنه یې د غلو دانو، حبوباتو او میوو د بېلابېلو ډولونو پر کرلو بوخت دي[۲].

زراعت او مالداري د افغانستان په اقتصاد کې داسې ځانګړی رول لري چې د لرې پرتو سیمو ټولې لومړنۍ اړتیاوې او د ژوند اسانتیاوې له همدې برخې پوره کیږي، خو د کرهنې او مالدارۍ له پراختیا سره د هیواد اقتصاد هم وده کوي.

---

(۱) د بهرنیو چارو وزرات، ستوری مجله، پنځمه ګڼه: ۴

(۲) نورالله ابراهیمي ـ اقتصادي جغرافیه: ۹، چاپ: د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره

اسلامي امارت د امریکایي اشغال له ماتې وروسته زراعت او مالداری ته کار وکړ او په دې لړ کې یې د اوبو مدیریت ته هم ځانګړې پاملرنه وکړه چې د هیواد دښتې او شاړې ځمکې هم په اوبو خړوب کړي او د زراعت په برخه کې مو هیواد په خپل ځان بسیا شي.

کرنه په سوداګری کې پراخ اغېز لري او کرنیز کاروبارونه محلي منابع لکه ځمکه، اوبه او بوټي په یو ډول تر استفادې لاندې راولي او کوچني زراعتي کاروبارونه جوړوي چې په ټولییزه کچه د بې وزلۍ مخه نیسي[۱].

په دې برخه کې د اسلامي امارت تر ټولو لوی ابتکار یې د قوش تېپې کانال و چې د افغانستان له شمال څخه پیل شو او د بلخ، جوزجان او فاریاب تر اندخوی پورې وغځېد، عمومي اوږدوالی یې ۲۸۵ کیلومتره دی چې د دې سترې ملي پروژې د بشپړېدو په صورت کې د هیواد شاوخوا ۵۵۰ زره هکټاره ځمکه په اوبو خړوبېږي او د کرنې وړ ګرځي[۲].

قوش تپه کانال د افغانستان د کرنې، اقتصاد، خوراکي امنیت او اوبو د ملي مدیریت له پلوه یوه تاریخي پروژه ده. که دا پروژه په لوړ تخنیکي معیار، دوامدارې ساتنې او عصري کرنیز پلان سره بشپړه شي؛ نو د افغانستان د شمال په اقتصادي جغرافیه کې د پام وړ بدلون راوستلی شي، خو د پروژې ترڅنګ د اوبو ضایعات، د ځمکې مالګینتوب، تخنیکي کیفیت او د آمو سیند سیمه ییزې اوبه د ییلوماسۍ هغه اساسي موضوعات دي چې علمي او اوږدمهاله مدیریت ته اړتیا لري.

۵ـ ټکنالوژي او نوښت (Technology and Innovation)

د تولیدي ټکنالوژي پرمختګ، څېړنې او نوښت د معاصرې اقتصادي ودې له مخې د اقتصادي ثبات او پراختیا اصلي سرچینې ګڼل کیږي.

د اقتصادي ډګر معاصره سیالي د ټکنالوژیکي نوښتونو پر سر کیږي، یوازې هماغه دولتونو باندې حساب کیږي چې د ټکنالوژي نوښت ته پاملرنه لري او پراختیا لپاره یې زیار باسي.

---

(۱) علم او فن علمي څېړنیزه مجله، ګڼه ۲، مخ: ۹۱

(۲) the world bank report id ۱۹۸۰۶۲ –tj ۲۶ june ۲۰۲۵

د چین په اقتصادي وده کې د ټکنالوژي ډېر رول دی، ځکه هغوی په داسې برخو کې نوښتونه وکړل چې د نړۍ انجینران او پوهان ورته حیران دي. او یوه ځانګړنه یې دا ده چې په ټېرو ځلوښتو کلونو کې یې له ټیټ لګښت لرونکي تولیدي اقتصاد څخه د نوښت، څېړنې او پرمختللې ټکنالوژۍ پر بنسټ اقتصاد ته د بدلون هڅه کړې ده.
د دې بدلون تر شا د دولت اوږدمهاله تګلارې، د څېړنې او پراختیا پراخه پانګونه، د بشري پانګې وده او د صنعتي پالیسۍ اغېزمن تطبیق هم رول لري.
چین د مصنوعي ځیرکتیا په برخه کې هم د نړۍ له مخکښو هیوادونو څخه دی. دا ټکنالوژي په روغتیا، بانکوالۍ، صنعت، ترانسپورت، امنیت، ژبې پېژندنې او ځیرکو ښارونو کې کارول کیږي.
د انټرنټ سرعت، صنعتي اتومات، ځیرک بازارونه، روغتیایي خدمتونه او چټکه وده کې یې د پنځم نسل مخابراتو (5G) تولید هم رول لري.
د ټکنالوژۍ په برخه کې یې بریښنایي موټرونه، چټک اورګاډي، فضایي ټکنالوژي، ډیجیټلي اقتصاد او نور ډېر نوښتونه کړي چې د نړۍ پام یې ځان ته را اړولی.
د لمریزې او بادي انرژي، بریښنایي بېټریو او د کاربن د اخراج کمولو په ټکنالوژیو کې یې هم سترې پانګونې کړې دي.

٦ـ ښه اداره او اغېزناکه حکومتولي

شفاف حکومت، د قانون حاکمیت، د فساد کمښت، د بې ضرورته بېروکراسۍ مخنیوی، بې اړتیا تشکیلاتي پرسوب له منځه وړل او د ملکیت د حقونو ساتنه د پانګونې لپاره مناسب چاپېریال رامنځته کوي.
معاصرې څېړنې ښیي چې د ادارو کیفیت د هیوادونو د اقتصادي توپیرونو یو مهم لامل دی، هغه هیوادونه پرمختګ کوي چې ښې اداري او اغېزناکه حکومتولۍ لري او له شفاف اداري سیستم څخه خالي بې اغېزه حکومتونه د خپلو هیوادونو په پرمختګ او انکشاف کې پاتې راغلي دي.

د اقتصادي ودې خنډونه

د اقتصادي ودې په وړاندې ځینې خنډونه وي چې په ټوله کې د یو هیواد د ثبات او پرمختګ لپاره مانع جوړېږي؛ ځکه نو اړینه ده چې بحث پرې وشي او د حل لارې چارې یې ولټول شي. دلته د ځینو خنډونو او بیا یې د حل پر لارو چارو بحث کوو.

۱ـ کمزورې اداره او ناسمه حکومتولي

د اقتصادي ودې په وړاندې لومړنی اساسي خنډ دا دی چې د دولت چارواکي مسؤلیت منلو ته چمتو نه وي، د غیر مسلکي او بې وړتیا مأمورینو له امله یې اداره کمزورې او حکومتولي یې ناسمه وي.

اغیزناکه اداره کولی شي چې بشري ځواک ته د کار فرصتونه رامنځته کړي، له وړتیاوو یې ګټه پورته کړي او د اقتصاد په ثبات کې ترې کار واخلي. ځکه خو د بې روزګارۍ له ډېروالي او د کادرونو له ناهیلیو سره اقتصادي ثبات له منځه ځي.

په دې کې شک نشته چې روزي الله تعالی ورکوي، خو د یو حکومت چارواکي له خپل مسؤلیت څخه د تېښتې په پلمه دا د یو اصل په توګه نه شي وړاندې کولی، بلکې هغوی مکلف دي چې د اسبابو په چمتو کولو، خلکو ته د کار زمینې برابرولو او په ټوله کې په شفاف ډول له اقتصادي منابعو څخه ګټه اخیستلو کې خپلې دندې درک کړي او د منظمو تګلارو له مخې د خلکو له وړتیاوو ګټه پورته کړي.

۲ـ بې اړتیا بېروکراسي

د اقتصادي پراختیا په وړاندې بل لوی خنډ بې اړتیا بېروکراسي ده چې د پانګوالو مورال ماتوي، له ناهیلۍ سره یې مخ کوي او وخت یې ضائع کوي.

د سوداګرۍ، صنعت او پانګونې لپاره جوړېدونکو قوانینو کې دا اړینه ده چې د اسنادو د بې ځایه طی مراحلو مخه پکې نیول شوې وي او لکه د ډاکټر او پیلوټ وخت چې ارزښت لري، همداسې د پانګوال وخت ته باید په ارزښت وکتل شي او په بې ځایه سرګردانیو یې د پانګونې په وړاندې خنډ او زنډ ایجاد نه شي؛ ځکه پانګوال د خپلې پانګې د ډېرېدو په موخه حرص لري چې په لږ وخت کې ډېر څه ترسره او ترلاسه کړي؛ نو که په یو هیواد کې له بېروکراسۍ سترې کیږي، بل هیواد ته ځي او هر ځای چې یې د پانګونې لپاره سهولتونه رامنځته کیږي، همالته پانګونه کوي چې دا له هیواده د ډېرې پانګې وتلو ته لارې هواروي.

۳ـ سیاسي بې ثباتي او نا امني

د اقتصادي ودې په وړاندې بل اساسي خنډ سیاسي بې ثباتي او نا امني ده، ځکه سوداګر ډاډ ته اړتیا لري او چېرته چې په خپله پانګه د خوندي کېدو ډاډ ونه لري، هلته پانګونې ته زړه نه ښه کوي.

په بې ثباته هیوادونو کې د ناامنیو له امله پانګې تېښته کوي، زېربناوې ویجاړېږي او له ډېرو مهاجرتونو بشري پانګه هم له هیواده وځي.

۴ـ لوړ انفلاسیون او اقتصادي بې ثباتي

د اسعارو بې ثباتي، لوړ انفلاسیون او ناسمې مالي او پولي پالیسۍ د پانګونې او سپما انګېزه کموي. د پرمختللو هیوادونو په اقتصادي وده کې د هغوی مالي او پولي پالیسۍ ډېر رول لوبوي او د اسعارو ثبات یې د اقتصادي رکود مخه نیسي.

ډېرو علمي څېړنو ثابته کړې چې د بانکونو سودي معاملات او احتکار د پولي انفلاسیون له اساسي عواملو څخه دي[۱].

۵ـ د طبیعي سرچینو ناسم مدیریت

کوم هیوادونه چې خپلې طبیعي سرچینې په شفاف ډول مدیریت نه کړي، او دولت پکې خپل اغېز ونه ښیي؛ نو د اقتصاد په وده کې ترې ګټه نه شي اخیستلی. د هیواد اقتصادي سرچینې او معادن د اوسنیو نسلونو په لاسونو کې د راتلونکو نسلونو د امانت حیثیت لري، که دوی د هیواد او ملي اقتصادي ودې په برخه کې ترې ګټه پورته کوي؛ نو راتلونکي نسل ته یو هوسا او پرمختللی هیواد پرېږدي، خو که دې ملي پانګو ته د زورواکانو لاسرسی پیدا شي او هغوی یې د حکومتونو له مداخلې او مدیریت پرته خپلو شخصي ملکیتونو کې راوړي؛ نو د هیواد په ځان بسیاینه کې ترې ګټه نه شي پورته کېدلی.

د هیواد طبیعي زېرمې هغه مهال په ټولییزه اقتصادي وده کې اغېزمنتیا ښودلی شي چې د حکومت له لوري اداره شي، اجتماعي عمل پکې وندې ولري، شفافیت او عدالت پکې څرګند وي او د ملي اجتماعي مسؤلیت له مخې ګټه ترې پورته شي[۲].

٦ـ د سوداګرۍ محدودیتونه

د سوداګرو په وړاندې غیر ضروري مقررات، لوړې تعرفې، نړیوال بازار ته محدود لاسرسی او د پانګونې په وړاندې خنډونه د صادراتو او سیالۍ وړتیا کموي چې د اقتصادي ودې په وړاندې لوی خنډ جوړېږي.

---

(۱) فالكسب الحاصل بالمراباة حرام؛ لأنه من غير جهد ولا عمل، وإنما هو ظلم واستغلال، ومن أهم عوامل التضخم النقدي، وانتشار الاحتكارات. الفقه الاسلامي وأدلته: ۷/ ۸۲، چاپ: دار الفكر

(۲) التخطيط وادارة الموارد الطبيعية: ۱۰۵ـ۱۰٦

د اسلامي امارت له حاکمیت وروسته ځینو ګاونډیو هیوادونو د خپلو بدنیتونو له مخې پر افغانستان اقتصادي او سیاسي فشارونو ته کار ووایۀ، سوداګریزې لارې یې وتړلې او یوه ناکامه هڅه یې وکړه چې افغانستان خپلو سیاستونو ته محتاج وساتي؛ خو له نېکه مرغه چې د اسلامي امارت چارواکو وضعیت په سمه توګه مدیریت کړ او د یو اسلامي و ملي احساس له مخې یې د بدیلو لارو او پراخې سوداګرۍ لپاره هڅې پیل کړې چې له برکته یې د اقتصادي ودې ترڅنګ سیاسي استقلال هم وساتل شو.

۷ـ مالي او اداري فساد

په دولت کې مالي او اداري فساد د دولت عوائد کموي، ملي بودیجې ته ستونزې جوړوي، سترې پروژې ټکنۍ کوي، د بیارغونې چارې له خنډ او زنډ سره مخ کوي او په ټوله کې د اقتصادي بې ثباتۍ لپاره په داسې ناروغۍ بدلیږي چې مخنیوی یې د وخت په تېرېدو ستونزمن کیږي او که پیل کې یې درملنه ونه شي؛ نو په تدریج سره وده کوي او د دولت ټولې چارې ټکنۍ کوي.

ډېرې نظري او تطبیقي څېړنې ښیي چې اداري او مالي فساد پر اقتصادي ودې منفي اغېزې لري[1].

د اسلامي امارت د اقتصادي ثبات یو لوی راز د فساد پر ضد رښتونې مبارزه ده، چارواکي یې په ډېر لږ وخت کې وتوانېدل چې د فساد په برخه کې د نړۍ د لومړني هیواد له لړلۍ څخه وروستي ته راټیټ کړي او د فساد کچه د پخوا په پرتله تر وروستۍ کچې پورې راټیټه کړي.

۸ـ په ټکنالوژي کې وروسته والی: د اقتصاد راتلونکي پرمختللي او اغېزناک منابع په ټکنالوژي راڅرخي، کوم هیوادونه چې د ټکنالوژیک نوښت په برخه کې سیال نه لري او د رقابت زیار نه باسي، کېدای شي د وخت په تېرېدو د نورو د محاسبو برخه وي او خپل اقتصادي ثبات به ونه ژغورلی شي.

د حل لارې چارې: د دې ټولو ناخوالو لپاره درې اساسي حل لارې وړاندې کوم:

---

(1) أثر الفساد الإداري على النمو الاقتصادي: تشير كثير من الدراسات النظرية والتطبيقية بأن الفساد الإداري والمالي له آثارا سلبية على النمو الاقتصادي. الفساد الإداري وعلاجه من منظور إسلامي: ۷.

۱ـ په اداره کې اهل خلک ګمارل

أهلیت کې یواځې تعهد مطرح نه دی، بلکې د ژمنتیا ترڅنګ امانتولي، تخصص، مسلک، پوهه، تجربه، رښتینولي او مسؤلیت پذیري هم معتبر دي.

که په دې اخلاقي او مهارتي بنسټونو اداره تشکیل شي؛ نو بې شکه د اداري فساد مخه ډب کیږي، حکومتولي اغېز پیدا کوي، کورنی او بهرنی باور رامنځته کوي او د اقتصادي ثبات لامل کیږي.

۲ـ د سیستم ډیجیټل کول: کله چې سیستم ډیجیټل شي؛ نو د بې اړتیا بېروکراسۍ مخه نیول کیږي، ډېر کارونه په لنډه او اسانه توګه ترسره کیږي، د فساد مخنیوی کیږي او شفافیت رامنځته کیږي.

۳ـ د مصلحتونو له مخې سهولتونه ایجادول

که دولتونه د قانون جوړونې په برخه کې عمومي مصلحتونو ته ژوره پاملرنه وکړي او د پانګوالو لپاره د فرصتونو ترڅنګ سهولتونه هم ایجاد کړي؛ نو د پانګوالو پام راجلبوي او اقتصاد وده کوي.

پایلې: په دې بحث کې دې پایلو ته رسیږو:

۱ـ اقتصادي وده د نړۍ ټولو ملتونو او دولتونو ته لومړیتوب لري، ځکه له اقتصادي ثبات پرته سیاسي ثبات هم ناممکن دی.

۲ـ له اقتصادي ودې پرته د هیوادونو استقلال، ځمکنۍ بشپړتیا او ارزښتونه خوندي نه پاتې کیږي.

۳ـ د اقتصادي ثبات لپاره اړینه ده چې پر عواملو یې بحث وشي، له فرصتونو څخه ګټه پورته شي او داسې اغېزناکې تګلارې ورته چمتو شي چې په اقتصادي وده کې کار ورکړي.

۴ـ د اداري سیستم ډیجیټل کول د بې اړتیا بېروکراسۍ مخه نیسي او پانګونې ته بستر چمتو کوي.

۵ـ په اقتصادي وده کې د نړۍ د بېلابېلو هیوادونو تجربې شته، خو د چین او متحده عرب اماراتو تجربې د پام وړ دي چې په اداري سیستمونو، بیارغونې او اقتصادي ستراتیژیو کې د نړۍ لپاره نمونه جوړیږي.

٦ـ اقتصادي ثبات د بشري ځواک په مټ ترلاسه کیږي چې د هغوی روزنه او له نړۍ سره سیالۍ ته چمتو کول یې خورا اړین او د دولتونو مسؤلیت دی.
۷ـ ټکنالوژیکي نوښتونه د معاصر اقتصاد بنسټونه جوړوي او یواځې هغوی له فقر سره نښه مبارزه کوي چې ټکنالوژي کې نوښتونه کوي.
۸ـ د دولتونو سیاسي ثبات د اقتصادي ودې لامل ګرځي، ځکه چې پانګوال په بې ثباته هیوادونو کې پانګونې ته زړه نه نښه کوي.
۹ـ په مالیاتو کې توازن او د پلان او مصلحتونو له مخې یې لوړول او ټیټول په اقتصادي وده کې اغېز لري.
۱۰ـ له طبیعي منابعو څخه د دولت په مدیریت کې په شفاف ډول ګټه اخیستل د هیواد په کچه اقتصادي ودې کې اغېزمن ثابتیږي.

وړاندیزونه

۱ـ د صنعت او سوداګرۍ وزارت ته وړاندیز دی چې کاري فرصتونو او پانګوالو ته د سهولتونو رامنځته کولو لپاره په خپلو قوانینو او تګلارو بیا ځلې غور وکړي.
۲ـ د اقتصاد او سوداګرۍ وزارتونو ته وړاندیز دی چې د کاري فرصتونو پیدا کولو او اقتصادي ودې لپاره اغېزناکې پالیسۍ او منظمې تګلارې جوړې کړي.
۳ـ د ریاسة الوزراء اقتصادي معاونیت ته وړاندیز دی چې د بېروکراسۍ د کمولو او خلکو ته د کاري فرصتونو په لړ کې د سهولتونو رامنځته کولو لپاره خپله تګلاره اسانه او روښانه کړي.
۴ـ اقتصادي معاونیت ته وړاندیز دی چې د بهرنیو پانګونو د جلب لپاره بستر چمتو کړي، پالیسي ورته جوړه کړي او په ځانګړي ډول له هیواده وتلي ملي سوداګر وهڅوي چې بېرته راستانه شي او د ځانګړو امتیازونو په بدل کې د افغانستان په بیارغونه او اقتصادي پراختیا کې ونډه واخلي.
۵ـ د افغانستان د علومو اکاډمۍ عمومي ریاست ته وړاندیز دی چې د هیواد د اقتصادي ودې، ثبات او پراختیا په برخه کې د نویو علمي څېړنو لپاره د اسلامي بانکوالۍ مرکز غني او د اقتصادي چارو ځانګړي مرکز ته له اداري او مسلکي خلکو د ګمارنې له پلوه صلاحیت ورکړي، چې د هیواد له سوداګریزو او اقتصادي بنسټونو سره د اغېزناکو پالیسیو د جوړولو په برخه کې همکاري وکړي.

مأخذونه

١ـ القرآن الكريم.
٢ـ محمد شوقى الفنجرى ـ الإسلام والتوازن الاقتصادي بين الأفراد والدول، چاپ: وزارة الأوقاف.
٣ـ الامام البخاري محمد بن اسماعيل، صحيح البخاري، چاپ: دار طوق النجاة.
۴ـ الامام مسلم بن الحجاج القشيري النيسابوري ـ صحيح مسلم، چاپ: دار احياء التراث العربي.
٥ـ الامام أبوداود سليمان بن الأشعث السجستاني، سنن أبي داود، چاپ: دار الرسالة العالمية.
٦ـ شهاب الدين محمود بن عبد الله الحسيني الألوسي، روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني، چاپ: دارالكتب العلمية ـ بيروت.
٧ـ الزحيلي، دكتور وهبة ـ الفقه الاسلامي وأدلته، چاپ: دار الفكر ـ سوريه دمشق.
٨ـ محمد إبراهيم برناوي ـ خصائص ومقومات الاقتصاد الإسلامي، چاپ: مجلة الجامعة الإسلامية بالمدينة المنورة.
٩ـ مالک بن الحاج عمر بن الخضر بن نبي ـ المسلم في عالم الإقتصاد، چاپ: دار الفكر-دمشق سورية.
